


# حکومت پوهنه

## وزیر محمد گل خان

دوکتور قاضي حفیظ الله شاد جبارخیل

۱۳۹۳

حکومت پوهنه
دوکتور قاضي حفیظ الله شاد جبارخیل

۷

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حکومت پوهنه


# وزیر محمد ګل خان

الحاج پروفیسور دکتور قاضي حفیظ الله ښاد جبارخېل

www.melitahrik.com
0777 400 116

۱۳۹۳ ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



www.melitahrik.com
0777 400 116

## د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم : حکومت پوهنه (وزیر محمد گل خان)
لیکوال : الحاج پروفیسور دکتور قاضي حفیظ الله ښاد جبارخېل
خپرندوی : د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه
د خپرندوی شمېره: (۷)
کمپوز : ظفر اقبال
پښتۍ ډیزاین : فیاض حمید
د چاپ شمېر : (۱۰۰۰) ټوکه
د چاپ کال : ۱۳۹۳ ل

(c) ketabton.com: The Digital Library





جنرال وزیر محمد گل خان مومند

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالــۍ

دا کتـاب خپلـې د ژونـد سـببي مـور بـي بـي باضـعه "ببـو" جبارخېله او زما ګران پلار مولاناعبدالحکیم خان جبارخېل او د پښتو ادب ټولو مینه والـو تـه ډالـۍ کـوم، او دعـا کـوم، چې د الله تعالی رضا زمونږ د ټولو مسلمانانو نصیب شي.

الحاج پروفیسور ډاکټر قاضي حفیظ الله ښاد جبارخېل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړ لیک


| ګڼه | | مخ |
|---|---|---|
| ٣ | سریزه | الف |
| ۴ | حکومت پوهنه | ١ |
| | نسب | ٣ |
| ۵ | زده کړې | ۴ |
| ٦ | دندې | ۴ |
| ٧ | مهم کارونه | ۵ |
| ٨ | د وزیر محمد ګل خان آثار | ٩ |
| ٩ | د وزیر محمد ګل خان زده ژبې | ١٠ |
| ١٠ | د محمد ګل خان پښتو ته پاملرنه | ١٠ |
| ١١ | باندیني سفرونه | ١١ |
| ١٢ | د وزیر صاحب کارونه | ١١ |
| ١٣ | د وزیر محمد ګل خان شاعري | ۴٦ |
| ١۴ | د اروانباد د شعر بېلګه په نوي لیکدود | ۴٧ |
| ١۵ | تقریر | ۴٩ |
| ١٦ | د وزیر محمد ګل خان نثر | ۵٠ |
| ١٧ | د وزیر محمد ګل خان وفات | ۵١ |
| ١٨ | د محمد ګل خان فاتحه | ۵٢ |
| ١٩ | د محمد ګل مومند ورثه | ۵٣ |
| ٢٠ | اداري چارې | ۵۴ |
| ٢١ | لومړی- اداري اصلاحات | ۵۵ |
| ٢٢ | دوه یم دنفوسو ځای پرځای کول | ۵٩ |
| ٢٣ | درییم- دپښتو ادبیات | ٦۴ |


www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

الله! حمد او ثناء دې وایم او د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم او د هغه ال او اصحابو ته دې درود او سلام استوم او شکر باسم چې اشرف المخلوقاتو کې دې په خبرو کولو او تعقل امتیاز رابخښلی. په ژبو کې دې عربي دیني او غوره ژبه ده لکه نیکه مرغه ښه رازده کړې ده خو د پښتون غیور او اتل قوم ژبه دې ما ته پښتو مورنۍ ژبه گرځولو سره دې زما مینه زیاته کړې ده. له وړوکوالي مې چې په پښتو خبرې کولې، اشعار مې ویلې د ازموینې پارچې او د محکمو ځینې وثیقې د اخبارو او مجلو مضامین او تالیفات مې زیات په پښتو لیکل چې ځینو همصنفیانو به دویم وزیر محمد گل خان بللم د دې لپاره چې نوموړی وزیر صاحب پېژندلی وي نو د هجرت په وخت د ساپي پښتو څېړنو او پراختیا مرکز سره په تماس کې فرصت په لاس راغی چې د وزیر محمد گل خان د پېژندگلوۍ په برخه کې مې دا کتاب ولیکه او په ورځ مجله کې پرله پسې چاپ شو. اوس مو راټول کړ او په کتابي بڼه مو سره برابر کړ. ښایي د ښاغلو مینه والو معلومات یې په لوستلو نور هم غني شي او ښې دعاوې راته وکړي.

ډاکټر ښاد جبارخېل

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

# تـقـریـظ

وزیر محمد گل خان چې د افغانستان پـه تاریخ کې د اداري سمون، یـووالي او پښـتو ادب تـه د ودې پـه ورکولـو سره یې بنسـټیز گامونـه پورته کړي، پښتو یې د نورو ژبو سره سیاله ساتلې او پاللې، ځېړنپال او ادبپوهان د یوه رښتیني پاسوالي او پـازوالي پـه لرلـو سره پـه ښـه حکومتداري هم قانع کړي دي.

د وزیر محمد گل خان په اړه په رسمي او غیر رسمي سیمینارونو کې مقالې لوستل شوي چې لـه نیکـه مرغـه لیکـل شوې مقـالې د سـاپي پښتو څېړنو او پراختیا مرکز لخوا د وزیر محمد گل خان یـاد پـه نامـه چاپ شوي دي. تـر دې د مخـه الحـاج پروفیسـور دکتـور قاضـي حفیظ الله ښاد جبارخېل د وزیر محمد گل خان په اړه پوره او کره لیکنـه کـړې چې د ورځ مجلې په تېرو گڼو کې پرلپسې چاپ شوې ده.

ښاغلی قاضي حفیظ الله ښاد جبار خېل چې د وزیر محمـد گـل خـان پـه اړه کـوم معلومـات لاس تـه راوړي، دا دي پـه چـاپي بڼـه زمـونږ پـه لاس کې لیدل کېږي. هغه څه چې د وزیر محمد گل خان په اړه پـه دې کتـاب کې ولیدل شول په رښتیا چې ښاد جبارخېل یې پـه اړه ډېـر څـه لاس تـه راوړي دي.

په دې کتاب کې ښودل شوي چې وزیـر محمـد گـل خـان د یـوې خـوا د سقوي تاړاکگرو په مقابل کې د پوځیوالي مقدسه دنده ترسره کړې نو د بلـې خـوا یـې پښـتو ادب او پښـتو ژبـې تـه د بنسـټیزو خـدمتونو ترڅنـگ د ژونـد نـوې سـا هـم وربخښـلې ده. د وزیـر محمـد گـل خـان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ربنتیني خدمتونو ته په ژور نظر کتل شوي او راتلونکی نسل زمونږ د اتلانو د اتلولۍ څخه خبر شوی دی. دا هم ښودل شوي چې وزیر محمد ګل خان پښتنو او پښتو ادب ته تر کومه حده خدمت کړی پښتو ته یې سوچه والی وربخښلی او د پښتو سره یې د بې کچه مینې په لرلو سره څومره پالوالي ساتلې ده. د بهرنیو تاړاکګرو او بلوڅګرو مقابله یې څومره په اتلولۍ سره کړې ده.

زه د پروفیسور قاضي حفیظ الله ښاد جبارخېل زیار او کوښښ د یوه ستایوال په اند د دې وړ بولم چې پښتو ژبې او ادب ته د وزیر محمد ګل خان خدمتونو ته یې د ریالستۍ بڼه ورکړې تر خپله وسه یې په عمر خوړلي تن د بابا ښازنتوب ته درناوی ورکړی دی.

د الحاج ښاد جبارخېل هڅې ښادې اوسه.

سردار خان سیرت

د ساپي پښتو څېړنو او پراختیا مرکز- پېښور

د سلواغې ۲۴، ۱۳۹۱ل.هـ

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تحریک یادښت

فرهنګي څانګه د افغانستان ملي تحریک له اساسي څانګو څخه یوه اساسي څانګه ده. د دې څانګې دنده داده چې هېوادوالو ته فرهنګي خدمات وړاندې او ګټور فرهنګي کارونه ترسره کړي. د تاریخي، ملي، کلتوري ورځو او تاریخي او ملي شخصیتونو نمانځل ددې څانګې نورې دندې دي.

د هېواد د لیکوالو د علمي، دیني، روزنیزو او معلوماتي اثارو چاپ هم ددې څانګې له اساسي دندو څخه ګڼل کېږي. له هغې ورځې راهیسې چې تحریک خپل عملي فعالیتونه پیل کړي دي، نو دې څانګې هم ورسره سم خپل فعالیتونه چټک کړي دي. تاریخي ورځې یې نمانځلې، تاریخي واټونو ته یې لوحې جوړې کړې. علمي سیمینارونه او ورکشاپونه یې جوړ کړي دي.

د تحریک دې څانګې د تحریک د عمومي هدفونو په رڼا کې وټاکله چې په یوځایي ډول (شل عنوانه) کتابونه چاپ کړي. په دې اثارو کې اکثره دیني او علمي اثار شامل دي چې درنو هېوادوالو ته یې وړاندې کوي.

دا اثر (حکومت پوهنه وزیر محمد ګل خان) چې ستاسو په لاس کې دی، ښاغلي (دکتور قاضي حفیظ الله ښاد جبارخېل) لیکلی او د همدغو شلو عنوانو اثارو له جملې څخه دی. هیله ده درانه لوستونکي ترې ښه ګټه پورته کړي. تحریک خپلو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې په راتلونکي کې به هم خپلو دې ډول هڅو ته دوام ورکړي.

د هېواد د فرهنګ د بډاینې په هیله
په درناوي
د افغانستان ملي تحریک
فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لوراند لورين خاوند په نوم

# حکومت پوهنه

## محمد ګل خان مومند

کله چې مونږ د ګران هېواد افغانستان سياسي بهير وګورو راته ځرګنده به شي چې له : (يما) تر دې وختـه پـورې دا ټاټوبی د اتلانو ځای دی چې غوره خدمتونه يې ورته کړي دي؛ نو که فرانسه په ناپليون او دوګول نازېږي بريتانيا په شيکسپير او چرچل ناز کوي، پرتګال او اسپانيه په مارکوپولو او کرستوفر کولمبس، يونانيان پر سقراط او افلاطون، هند په ګاندهي او نهرو او پاکستان په علامه اقبال وياړي، افغانان هم په ابو مسلم خراساني، ميرويس خان نيکه، لوی احمد شاه بابا ، غازي امان الله خان،غازي محمد جانخان، ملا مشك عالم، علامه محي الدين جبارخيل او غازي، مجاهد ، سياست مدار، ليکوال، شاعر او ستر پوځي او اداري مشر جنرال وزير محمد ګل خان مومند بابا باندې نازېږي؛ ځکه نو افغانان حق لري چې د خپلو ملي مشرانو درناوی وکړي. افغانان بختور دي چې د خوشحال خان او محمد ګل خان غوندې ګلان لري چې د دوی پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هڅو د هېواد د ادب او تاریخ تیاره ګوټونه روښانه شوي دي.[1]
دا هم څرګنده ده چې له ډېر پخوا څخه د پښتنو او پښتو ژبې د وروسته پاتې کولو لپاره د مخالفینو هڅې روانې دي خو کله چې کوم شخصیت سر په کې راپورته کړي، بیا افغانان ویښولو ته اړباسي چې ښه بېلګه یې عمر لیث، بایزید، سراج الدین، خالد بن برمك او محمد ګل خان مومند دی.[2]
تاریخ راښیي چې پښتانه تل له ښارونو غرونو نه بید یاګانو ته کوچول شوي دي. ښه بېلګه یې د سلطان محمود له خوا غرونو ته د پښتنو لېږدول او په دربار کې د پاړسي خدمت کول ګڼل کېدای شي. کله چې په نولسمې پېړۍ کې امیر شېر علي خان په خپلې دوه یمې پادشاهۍ کې پښتو ژبې ته پاملرنه وکړه. د پښتو لیکوالانو ته څه موقع په لاس ورغله او بیا کله چې امان الله خان له انګریزانو ازادي وګټله. محمد ګل خان هم ورسره و، محمد ګل خان هماغه وخت پوهېده چې یو ستر واقعیت په هېواد کې له نظره ولېدلی دی چې هغه په دفتر، ښوونځیو، نشراتو او نورو برخو کې پښتو ژبې سره بې انصافي ده، نو ده د دغې بې عدالتۍ د مخنیوي له امله پښتانه راویښ کړل. د

www.melitahrik.com 0777 400 116

---

۱. رښتین پوهاند صدیق الله د مومند بابا یاد، د ۱۳۸۳ل.هـ کال د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز- پېښور چاپ پنځم مخ او د روحاني عصمت الله د (ورځ) مجله ۱۳۸۳ ل.هـ کال د زمري او وږي د میاشتې ګڼه.
۲. زلمی افغانمل (د مومند بابا یاد) د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز پېښور- ۱۳۸۳هـ.ش کال چاپ ۱۲۴ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سقوي دورې پای ته یې د ټکو په کېښودلو کې پوره هاند نه کار واخیست.

د سقوي نظام پر پای ته رسونې سره محمد ګل خان د محمد نادر خان مشر وروړ وګڼل شو او کابینه کې یې د کورنیو چارو وزیر وټاکه او ورته یې وویل: ته چې هر څه وغواړې مونږ ورونه یې درسره منو، ده ورته وویل: "زه یو شی غواړم چې: ملي، دفتري، تعلیمي او پوځي ژبه به پښتو وي، هغوی دا ورسره ومنله، نو پښتو ژبې یو څه سا واخسته او ژوندی شوه.

## نسب:

اروابښاد جنرال محمد ګل خان مومند د مرحوم غونډ مشر محمد خورشید خان مومند مشر ځوی و، د موسی خان لمسی، د عبدالکریم خان کړوسی او د عبدالرحیم خان کودی دی، په خټه د وېزی حسن خېل مومند او ده ته د مومند بابا، وزیر او ګل دادا خطاب هم کېده.

د پوهاند صدیق الله رښتین او عصمت الله روحاني د لیکنو له مخې وزیر محمد ګل خان په ۱۲۲۳ل.هـ کال د کابل ښار د اندرابیو په کوڅه کې ځېږېدلی دی، د وزیر محمد ګل خان پلارنی ټاټوبی د ننګرهار ولایت د ګولایي کلي کې و، کله یې چې نیکه موسی خان د امیر دوست محمد خان نظامي سلاکار وټاکل شو؛ نو د دوی کورنۍ بلخ ته لاړه اود عبدالرحمن په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوره کې د نظامي قوا او قوماندان شو چې د محمد اسحق خان د تعرض له کبله د سمنګانو په غزني ګنګ کې په یوه نښته کې شهید شو او د بلخ ولایت د شیخ حسن ولي د زیارت په محوطه کې خاورو ته وسپارل شو. د وزیر محمد ګل خان پلار خورشید خان هم نظامي زده کړې کړې وې او د هېواد په بېلا بېلو سیمو کې نظامي افسر و، کله چې د بلخ قوماندان شو هلته یې د څه ناروغتیا له کبله تقاعد واخیست او په ځای یې محمد ګل خان وټاکل شو.

## زده کړې:

وزیر محمد ګل خان لومړنۍ زده کړې په خصوصي ډول سرته رسولي دي او ځینو دی دلومړنیو زده کړو په برخه کې د حبیبي د ښوونځي فارغ ګڼلی دی. په هر صورت د لومړنیو زده کړو وروسته پر ۱۲۷۲ل.هـ کال د حربي ښوونځي په دوه یم ټولګي کې شامل شو، په پنځو کالو کې یې خپلې عسکري زده کړې په نظامي اکاډمۍ کې سرته ورسولې.

## دندې:

په ۱۲۷۷ ل.هـ کال له نظامي اکادمۍ له پای ته رسولو څخه وروسته د اردلیانو په غونډ کې د توپچي د څانګې د قوماندان په توګه وټاکل شو او هم یې شاهي ټولګي کې درس ورکولو او هم یې د حربي ښوونځي د سرښوونکي دنده چلوله. د دغه

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



کامیاب خدمت په ترڅ کې له سپه سالار صالح محمد خان سره د یاور په توګه وټاکل شو ا و بیا د شاهي ګارد قوماندان شو. له دې وروسته بیا په ترکیې کې د افغاني سفارت نظامي اتشه شو. له بریالي راستنېدنې وروسته د عسکري اکادمۍ امر او د شاهي ګارد استاد شو او شاهي ټولګي ته یې درس ورکاوه.

په ۱۳۰۰ ل.هـ کال د ملي دفاع د وزارت د نشرا تو او تبلیغاتو امر شو او د (مجموعه عسکري) د مجلې مدیریت هم ورپه غاړه شو چې د حربیې د وزارت له خوا خپرېدله، د خپلواکۍ جګړه کې یې هم زیاته برخه اخستې ده او خپله پښتني مېړانه یې څرګنده کړه.

محمد ګل خان له مولانا سیف الرحمن الکوزي، فیض محمد زکریا، محمد اسلم میرشکار، بشیر احمد خان، عبدالحمید خان، عزیز الرحمن فتحي، محمد ادیب افندي، غلام جیلاني او عبدالغني ترجمان پر ګډون د افغانستان د خپلواکۍ د پېژندنې پر منظور اروپا او امریکا ته سفر وکړ.[1] ۱۳۰۳ل.هـ کال د پکتیا ولایت ملکي او نظامي تنظیمه رییس شو.

په ۱۳۰۲ل.هـ کال د مزار شریف د ملکي پلټنې د رییس او بیا د ننګرهار ولایت د عسکري فرقې قوماندان مقرر شو.

محمد ګل خان په امانیه دوره کې د دولت له خوا په پټه مرکزي

---

۱. زرملوال الحاج غلام محي الدین - "ورځ" مجله د ۱۳۸۳ ل.هـ کال د زمري او وږي د میاشتو خپرونه ۳۹ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسیا ته ولېږل شو چې د شوروي اتحاد مخکې تګ او د نفوذ مخه ونیسي، خو د شوروي اتحاد له خوا ونیول شو او په شاقه بند محکوم شو، مګر د امان الله خان په سري کوښښ يې نجات وموند او بېرته هېواد ته راستون شو. د دغو کړاونو اغېز يې پر بدن د ژوند تر پایه اوږد شو.[1]

## مهم کارونه:

د سقوي انقلاب په وخت کې لومړی په ننګرهار کې له محمد هاشم خان سره او بیا په پکتیا کې سردار محمد نادر خان سره د ملاتړ اراده وکړه؛ نو د حبیب الله کلکاني د بلوا او د غازي امان الله خان د استعفا په وخت کې په ۱۳۰۷ل.هـ کال د وري د میاشتې پر ۳۰ نېټې د ختیځو ولایتونو د (۱۳۰) تنو قومي مشرانو سره جنوبي ولایت ته د جرګې پر مشرۍ لاړ او د محمد نادر خان سره یوځای شو. په پای کې کابل فتح شو او د انګریزانو هلو ځلو ته هم د پای ټکی کېښودل شو او کلکاني حبیب الله له ژوند سره مخه ښه وکړه او د هغه نظام په ۱۳۰۸ ل.هـ پای ته ورسیدو. محمد نادر خان د افغانستان پاچا شو او محمد هاشم خان ورور يې صدراعظم شو. جنرال محمد ګل خان مومند د محمد نادر شاه په دوره کې د اروابناد محمد هاشم خان په کابینه کې د کورنیو چارو وزیر شو او له هغه سره په بېلا بېلو ولایتونو

---

۱. روحاني عصمت الله - "ورځ" مجله - ۱۳۸۳ ل.هـ کال- زمری او وږی- ۳۵ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې چې هغه مهال اته ولایته وه تنظیمه رییس وټاکل شو چې په هېواد کې امنیت راولي. لومړی ننګرهار او پکتیا ته تلی و او بیا د پروان کاپیسا د ولایت د تنظیمه رییس چارې ترسره کړې او امنیت یې ټینګ کړی دی.

په ۱۳۱۰ل.هـ کال کې یې کابل کې ادبي انجمن جوړ کړو او په ۱۳۱۱ ل.هـ کال د کندهار، فراه او هرات د تنظیمه ریاست لپاره وټاکل شو. هلته یې هم انجمن جوړ کړ او (طلوع افغان) د همدغه انجمن له خوا خپرېدله. دغه انجمنونه سره یو ځای شول او پښتو ټولنه جوړه شوه. د علامه پوهاند عبدالحی حبیبي تر کتنې لاندې د کندهار اونیزه (جریده) د لومړي ځل لپاره په پښتو خپره شوه او د محمد ګل خان مخ ته یې کېښودله چې هغه ورته ۳۰ زره افغانۍ او په کندهار کې څو جریبه ځمکه جایزه ورکړه.[1]

د پښتو ژبې په برخه کې پراخ کار پیل شو. د پښتونخوا او بلوچستان وګړو چې د افغانستان حالات څارل، د پښتو خوځښت په کې هم وده وکړه. لیکوالو او شاعرانو د انجمنونو پر جوړونې پیل وکړو او "انجمن اصلاح افاغنه" ترې جوړ شو. خان عبدالصمد خان په بلوچستان کې داسې پښتو پیل کړه چې د سلام پر ځای یې (ښې چارې) ویل غوره وګڼل چې هماغه د

۱. زرملوال د الحاج غلام محي الدین د "ورځ" مجله، د ۱۳۸۳ ل.هـ کال د زمري او وږي د میاشتو خپرونه، ۴۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلام ژباړه ده. خان عبدالغفار خان ویل چې لمونځ دی پر پښتو شي چې پښتانه پر دې پوه شي چې له څښتن تعالی سره د دوی څه وعدې دي، ترڅو پرې وفا وکړي.
د پښتنو خوځښت وده وکړه که اوس حکومت پښتو ته کار هم ونه کړي، افراد حاضر شوي چې خپلې پښتو ته کار وکړي پېښور او کوټه کې په زرونو کتابونه پر پښتو چاپ شوي دي او په سلونو ادبي ټولنې جوړې شوې دي. پر کال ۲۰۰۰م د پښتو نړیوال کنفرانسونه پیل شول چې هغو ته ډېر پښتانه ادیبان او سیاسي شخصیتونه راغلي وه.
هغه وخت کله چې محمد ګل خان پر ۱۳۱۲ل.هـ کال د شمال ولایاتو (قطغن بدخشان، مزارشریف او میمنې) تنظیمه رییس وټاکل شو، ګڼ شمېر پښتانه یې پر ښارو او دولتي ځمکو د حکومت پر مصلحت مېشته کړل، شتمن بډایان یې پر سوداګرۍ او د شرکتونو جوړولو ته تشویق کړل، پښتو ته یې د پارسو ترڅنګ د زده کولو وده ورکړه، نو د ښو کړنو له لامله ورته دولت (د لمر عالي نښان ورکړ او شپږم ورور یې وباله. (محمد نادر خان، محمد هاشم خان، عبدالعزیز خان، شاه محمود خان، شاه ولي خان، محمد ګل خان.)
پښتو ته یې د خدمت کولو هلې ځلې سبب شوې چې په ۱۳۱۵ل.هـ کال پاچا د صدراعظم په عنوان داسې فرمان صادر کړ چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"مسلم است که مسئله زبان در وحدت ملی و حفظ ادات و شعایر ملت اثرات مشابهی داشته و توجه به این مطلب از جملهٔ ضرورت حیاتیهٔ یك مملکت به شمار میرود ، چون در مملکت عزیز ما از یکطرف زبان پارسي مورد احتیاج بوده و از جانب دیگر بعلت اینکه قسمت بزرگ ملت ما به لسان افغانی متکلم و مامورین علی الاکثر بسبب ندانستن زبان پښتو دچار مشکلات می شوند ، لهذا برای رفع مشکل زبان این نقیصه و تسهیل معاملات رسمی را اراده فرمودیم: همچنانکه زبان پارسی در داخل افغانستان زبان تدریس و کتابت است در ترویج و احیای لسان افغانی هم سعی بعمل آمده و از همه اول مامورین دولت این زبان ملی را بیا موزند ، شما بوزارت ها و نائب الحکومگی ها امر بدهېد که مامورین لشکری و کشوری مربوط خود را مکلف نمایند که در مدت سه سال لسان افغانی را اموخته و در محاوره و کتابت مورد استفاده قرار دهند".[۱]

ټولو ادارو او موٴسسو کې د پښتو ژبې کورسونه جوړ شول هر چا به چې شپږ سمستره پښتو وويله او ازموينه کې به بريالی شو پنځوس افغانۍ به د پښتو ژبې د امتياز په نامه ورکول کېدلې.

ده په کابينه کې ستر اهميت درلود ، نورو وزيرانو دا احساس کاوه چې هر څه د وزير محمد ګل خان په لاس کې دي.

---

۱. زرملوال الحاج غلام محي الدين - ورځ- زمری، وږی ۱۳۸۳ل.هـ ۴۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۳۱۹ ل.هـ کال کله چې د دولت وزیر شو ډېر علمي آثار یې ولیکل چې ځینې یې په لاندې توګه معرفي کوو:

## د وزیر محمد ګل خان آثار:

۱ـ "پښتو سیند قاموس افغانی" چې د ۱۳۱۲ ل.هـ کال د پوهنې وزارت په ۳۲۲ مخو کې خپور کړی دی، چې په ۱۳۸۲ل.هـ کال د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز بیا چاپ کړو.

۲ـ "د پښتو د ژبې لیاره یا پښتو صرف او نحو" چې د ساپي عبدالعظیم په اهتمام په ۱۳۱۷ل.هـ کال له سریزې پرته په ۴۹۵ مخو کې چاپ شوی دی او د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز په ۱۳۸۲ل.هـ کال بیا چاپ کړو.

۳ـ "لنډکې پښتو او پښتونواله" د ۱۳۲۷ ل.هـ کال چاپ شوی دی. چې په ۱۳۸۱ل.هـ کال د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز بیا چاپ کړی.

۴ـ "پښتني روزنه (تعلیم او تربیه)" نه دی چاپ شوی.

۵. "پښتو پښتونواله (فرهنګ)" نه دی چاپ شوی.

۶ـ "د پښتو لویه نحو (معاني او بیا ن)" نه دی چاپ شوی.

۷ـ "د پخلي ډولونه" نه دی چاپ شوی.

۸ـ "سیمه" نه دی چاپ شوی.

۹ـ "مېلمستوب" نه دی چاپ شوی.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰ـ "پښتو کې ټوکې" نه دی چاپ شوی.

## د وزیر محمد ګل خان زده ژبې:

وزیر محمد ګل خان په عربي، ترکي، روسي او ازبکي ژبو پوهېده پښتو یې مورنۍ ژبه وه او په پارسي ادبیاتو کې پوره وارد و.

## د محمد ګل خان پښتو ته پاملرنه:

په قطغن کې یوه سړي ورته پر پارسي شعري عریضه ولیکله. ده هم ورته په پارسي نظم احکام ورکړل. ادیبان او میرزایان ورته حیران شول، ټول په دې قانع وه چې: وزیر صاحب نه یوازې په پښتو کې ادیب دی، بلکې پارسي کې هم پوره مهارت لري، ده دومره فصیحې خبرې کولې چې اورېدونکیو به په احترام اورېدلې.

محمد ګل خان په قرآني تفاسیرو کې ژوره مطالعه درلوده، په دیني چارو ډېر پابند و او په اسلامي موضوعاتو کې محتاط و، هغه پښتو او مسلماني یو له بله سره لازم او ملزوم ګڼلې، هغه په افغانستان کې د میشته قومونو له منځه او د نړۍ د ملتونو ترمنځه په بین المللي سویه د ښه تفاهم متقابل درك، د حقوقو د تامین او درناوي پلوي کوله، هغه په افغانستان کې پښتو او پارسو رسمي ژبې ګڼلې، نو هر تحصیل لرونکی افغان یې د دواړو ژبو پر زده کړې، افهام او تفهیم مکلف بالـه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږکیو ژبې یې هم د پام وړ بللې، خو له پښتو سره یې عناد او سپکاوی نه شو زغملای؛ ځکه یې د پښتو ژبې ودې ته کلکه ملا تړلې وه او د پښتو ژبې پنځه ستوري یې وروزل:
(عبدالروف بېنوا ، قیام الدین خادم، گل پاچا الفت، عبدالحی حبیبي، صدیق الله رښتین) دوه یمه او دریېمه لیکه لیکوالان ورپسې شوه او د ستوریو لړونه راوځلېدل.)

## باندیني سفرونه:

وزیر محمد گل خان د افغانستان د خپلواکۍ او له حالاتو څخه د خبرتیا لپاره له یوې ډلې مشرانو سره اروپا او امریکا ته لاړ. ده سره ملګري وه مولانا سیف الرحمن الکوزی، فیض محمد زکریا محمد اسلم میر شکار، بشیر احمد خان، عبدالحمید خان، عزیز الرحمن فتحي، محمد رقیب، غلام جیلاني، عبدالغني ترجمان، چې د مخه یې هم ذکر راغلی دی.[۱]

## د وزیر صاحب کارونه:

وزیر محمد گل خان د محمد نادر شاه په وخت کې ادبي انجمن جوړ کړ او په ۱۳۱۰ل.هـ کال یې په پښتو ټولنه بدل کړ او د کابل مجله یې پښتو کړه. په کندهار کې یې محمدیه مدرسه تاسیس کړه. پښتو انجمن یې جوړ کړ، طلوع افغان ورځ پاڼه

۱. زرملوال الحاج غلام محي الدین "ورځ" مجله د ۱۳۸۳ ل.هـ کال د زمري او وږي خپرونه/۳۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې پښتو کړه، ښوونځي يې جوړ کړل. د ځوانو ليکوالو روزنه يې کوله، د ميرويس نيکه مزار يې ودان کړ، سرکونه او لارې يې اعمار کړې او د بلخ او بغلان ښارونه او کلي يې ودانول، بزګرانو ته يې ځمکې وېشلې، زده کړې او کرهنې ته يې خلك هڅول.[۱] وزير محمد ګل خان پښتو ژبې ته د ودې ورکولو له لامله لاندې مطالبو ته لارښوونې کولې.[۲]

۱ـ پښتو ژبه د هېواد د نفوسو په سلو کې له (۲۵-۲۰) خلکو ژبه ده. بايد زده شي، وده ورکړ شي او تعميم شي.

۲ـ د هېواد پاچا، صدراعظم، وزيران، معينان، واليان حاکمان، قاضيان، طبيبان، دکانداران، او نور پښتانه مراجعين لري، د دې لپاره چې د مراجعې په وخت کې پښتو ژبې له ستونځې سره مخامخ شوی نه وي. بايد چې له باچا څخه تر دکانداره پورې ټول مامورين او چارواکي پښتو ژبه زده کړي او په پښتو ژبه ليك او لوست وکړای شي.

۳ـ پارسو ژبه د هېوادوالو په سلو کې پنځه ويشت نفوسو مورنۍ ژبه ده چې له پېړيو راپه‌دېخوا زمونږ په تدريسي او اداري چارو کې رسمي ژبه ده. بايد زده شي، وده او انکشاف وکړي، تعميم شي او د پښتو ژبې ترڅنګ د تدريس او د نشر ژبه وي.

---

۱. روحاني عصمت الله "ورځ" مجله د زمري او وږي خپرونه د ۱۳۸۳ ل.ش کال ۳۵ مخ.
۲. زرملوال الحاج غلام محي الدين ورځ- د زمري- وږی مياشت ۴۱ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴_ د ملي هويت په ساتنې کې ژبې ډېر باارزښته رول لوبولی، د پښتنو پښتني هويت باندې د پرديو د يرغل په مقابل کې پښتو ژبه نه ماتېدونکی کلك سنګر دی.

د پښتنو د پښتني هويت او پت ساتنې لپاره ډېره ښه او معقوله لاره، دا ده چې پښتانه پښتو يوائې خپله مورنۍ ژبه وبولي. پښتو هېره نه کړي، بلکې پښتو ژبې ته د نننيو دوديزو علومو غنا ورپه برخه کړي، پښتني ادب ژوندی کړي او د نننيو علومو غوره آثار او علمي کتابونه پښتو ته راوژباړي او د افغانستان ولس واك او اختيار ته يې وروسپاري. دا ځکه چې خلك د کتاب په وسيله د تاريخ د شهيدو شخصيتونو سره، چې تر ډېرو خاورو لاندې دي خبرې او بحث کولای شي او د پوهانو افکار او نظريات د دوی پر خپلې ژبه اوري او د ډول ډول ستونځو د حل لاره د پوهانو په تاليفاتو کې لټوي.

وزير محمد ګل خان ۱۳۱۵ ل.هـ کال د افغانستان پاچا محمد ظاهر شاه ته داسې وړانديز وکړ چې[۱] "د واحد افغانستان د ملي وحدت د تامينولو، د سياسي او ملي ژوندانه د پايښت لپاره د پښتو ژبې زده کړې، ودې انکشاف او تعميم ته چې د هېواد د ګڼ شمېر خلکو مورنۍ ژبه او حياتي مسئله ده اړتيا شته دی" هماغه و چې: پاچا پر پورتنۍ ذکر شوې نېټې يو فرمان چې د مخه ذکر شو صادر کړو او ټول ملکي او نظامي مامورين يې

۱. زرملو ال الحاج غلام محي الدين خان، ورځ- د زمري- وږي ګڼه ۱۳۸۳- ۴۱مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکلف کړل، چې پښتو ژبه زده کړي، ترڅو په رسمياتو کې د مراجعې پر وخت دواړه خواوې پر پښتو نه پوهېدلو له کبله ستونځو سره مخ نه شي، پر پښتو ژبې په ټولو دوايرو کې د پښتو کورسونه جوړ شول او فارغينو ته يې پنځوس افغاني امتياز ومنل شو.

د ۱۳۴۳ ل.هـ کال اساسي قانون کې د هېواد رسمي او ملي ژبه پښتو وليکل شوه.

د ترفيع، تقاعد او استخدام په قانون کې په دولتي دوائرو کې د تقرر او منلو لپاره په دواړو رسمي ژبو (پښتو او دري) پوهېدل محاوره، ليك او لوست ضروري او حتمي شرط ومنل شو، وزير محمد ګل خان له دې وروسته نور عمر په خپل کاله کې د پښتو ژبې په علمي او ادبي خدمت کې تېر کړ.

وزير محمد ګل خان تر ۱۳۲۷ ل.هـ کال پورې سمنګانو کې اوسېده، بيا په دغه کال غازي شاه محمود خان د صدارت په وخت کې کابل ته راغی او پاتې عمر يې په کابل، ننګرهار کې په خپله خوښه تېراوه، څو ژمي يې د کونړ په نرنګ کې او نور ژمي يې په خپل اصلي کلي (ګلايي) کې تېر کړل، خو په اوړي کې به همېشه کابل ته راتلو په دې ډول يې د خپل کوچياني ژوند لړۍ هم ټينګه ساتله.[1]

---

۱. رښتين پوهاند صديق الله (د مومند بابا ياد) د ۱۳۸۳ ل.هـ کال د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز / ۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد ګل خان مومند ۱۳۳۴ ل.هـ کال په لویې جرګې کې د نایب رییس په توګه غوره کړای شو او خپله پښتني دنده یې په ښه ډول سرته ورسوله.

وزیر محمد ګل خان خپلې وینا کې وویل: مونږ د الجزایر له مسلمانانو سره د زړه له کومې خواخوږي لرو. خپل مسلمان پښتنانه څنګه هېرولای شو؟ د محمد داود د کابینې ملګري له پښتو مخالف روان دي، په تېره د اطلاعات او کلتور او د پوهنې وزیران چې د ده په همدې وینا دواړه وزیران برطرف شوه.

چا غلام محمد فرهاد ته وویل: ته ځان د لویې جرګې د ریاست نیابت ته کاندید کړه! ده وویل: چېرته چې وزیر صاحب وي بل چا ته اړتیا نشته ده، دی زمونږ د ټولو مشر دی، د وزیر صاحب دومره درنښت و، چې ټولو به ویل: دی به پاچا شي.

## د وزیر محمد گل خان تواضع او نصایح :

د وزیر محمد گل خان کره وړه له ذکر شوې پېژندګلوۍ ښه قیاسېدلای شي؛ خو، چې راتلونکې یادونې یې مطالعه شي لیا ښه روښانه کېږي، چې دی څومره له کبر او غروره پاك شخصیت و.

دا دی د ده د تواضع د څرګندونې څو مثالونه چې لاندې کرښو کې یې وړاندې کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ـ هغه وخت چې وزیرمحمد گل خان په سمنگانو کې مېشت و، د سمنگانو پر سړك بېگاري كار پېل شوی و. ده هم یو خر مخکې کړی و او بېلچه يې پر اوږې وه. د سړك لپاره يې شگې او تیږې راټولولې. په دې ترڅ کې د سمنگانو والي راغی او محمد گل خان ته يې وویل:

"د خدای لپاره دا څه کوې؟ ده ورته وویل: که دا کار ثوابي وي، خو زه له ټولو نه ثواب ته زیاته اړتیا لرم او که بېگاري وي؛ نو په بېگار کې، خو باید توپیر نه وي، مشر او کشر باید یو شان کار وکړي.

۲ـ هغه وخت، چې وزیرمحمد گل خان د ژمي له خوا د کونړ ولایت د نرنگو په سیمه کې د کړه مار د کلي حبیب خان مېنه کې اوسېده، هلته له ده لیدل شوي کارونه، چې د یادونې وړ دي په دې ډول روایت شوي دي:

الف ـ یو وخت د ولایت استازي د دولت له وزارته د ده د یو کال معاش راوړ او د تسلیمۍ غوښتنه يې ترې وکړه، خو هغه ورته وویل: ما خو کومه دنده سرته رسولې نه ده. ان دا، چې لاسلیك مې هم نه دی کړی؛ نو د دې معاش اخستل روا نه دي. دا د بیت المال پیسې دي ببرته يې په عمومي خزانه کې دولت ته تحویل کړئ.

ب ـ یوه ورځ د کونړ حاکم خپل ماشوم څوی سره د محمد گل خان لیدنې ته ورغلی و، د ملاقات پر وخت ماشوم ته د حاجت

www.melitabrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



قضا اړتیا پیدا شوه؛ نو حاکم خپل عسکر ته وویل: ماشوم سمبال کړئ! کله، چې عسکر او ماشوم بېرته راستانه شول، محمد گل خان مومند حاکم ته وویل: ماشومان په وړکتوب کې ښایي د مور په غېږ کې وپالل شي؛ ځکه، چې مور یوازینۍ محرمه ده، چې په بې پردې وختونو کې باید د اولاد پالنه او روزنه وکړي. حتی پلار هم د مداخلې حق نه لري؛ خو، چې ځوی زلمی شي بیا پلار پسې وسله گرځوي.

دا چې تاسې په عسکر د دایه دنده سرته رسوئ دا یې سپکاوی دی، چې د عسکر شهامت سره نه ښایي او باید چې بده استفاده ترې ونه شي.

ج ـ یو وخت د پېچ د ولسوالۍ عزیزانو محمد گل خان مومند ته بلنه ورکړه او د هغو مېلمستیا ته لاړو. هغوی د ډالۍ په توگه ورته په زرگونو د ودانۍ لرگي راټول کړل، خو مومند بابا د هغوی دغه ډالۍ ونه منله او ورته یې وویل: د مشر سره نه ښایي، چې له کشرانو مادي استفاده وکړي، بلکې مشر د خپل قام خدمتگار وي؛ نو که تاسې زما مشرولي منئ دغه غوښتنې ومنئ:

لومړی ـ جوماتونه مو ودان او سپېڅلي وساتئ، په جماعت لمونځونه وکړئ، د قران مجید لوست زده کړئ، د علماو خبرو ته غوږ نیسئ او عمل پرې وکړئ، ملا امام او په جومات کې د مسافرو سره مرستې وکړئ، خپل ماشومان هلکان او نجونې

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسجد ته واستوئ، چې د اسلام پنځه بناوې زده کړي، لوست او لیك زده کړي، ترڅو د اسلام له ضروري احکامو خبر شي.

دوه یم ـ د ښوونځیو په ودانولو کې مرسته وکړئ، ماشومان مو تعلیم او تحصیل ته وهڅوئ او د لوړو تحصیلاتو زمینه ورته برابره کړئ، خپله ژبه او فرهنگ پرې په پوره پوهې سمبال کړئ.

دریم ـ مېرمنو ته مو په کاله کې د کار او فعالیت زمینه برابره کړئ. هغوی بېدیا او غره ته مه لېږئ، په کاله کې ورته د گنډلو او نور د کارالات او سامان برابرکړئ او د غالیو جوړولو کارونه زده کړئ، د بې وخته کوژدې او واده ځنې ډډه وکړئ، د نجونو په سر ولور مه اخلئ او د کونډو سره د اجباري نکاح کولو نه ځان وساتئ او مېرمنو ته روا حق ورکړئ.

څلورم ـ اتفاق او اتحاد وکړئ، د تربگنۍ او دښمنۍ نه ځان وساتئ، په جرگو او مرکو سره ستونځې حل کړئ، د بشري کرامت پوره خیال وساتئ او په پاك نیت او نېکې ارادې سره د ورورولۍ خوږ ژوند وکړئ.

پنځم ـ د هېواد په ساتنه او ودانولو کې فعاله ونډه واخلئ، له ملي شتمنۍ څخه په فني توگه معقوله استفاده وکړئ ځنگلونه او کانونه مه تباه کوئ.

شپږم ـ پاکوالي ته د زړه له کومي پاملرنه وکړئ، د ښارویو د استوگنې ځایونه جلا کړئ او د هغو فضوله مواد په جلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځایونو کې خوندي کړئ، ترڅو د مرضونو د پراختیا مخه ونیول شي.

اووم ـ مېلمنو ته له کاله جلاځایونه جوړ کړئ او مېلمه پالنه د عنعنې له مخې د ملي خصوصیت له کبله وساتئ.

۳ـ کله، چې محمد گل خان د کندهار تنظیمه رییس و د میرویس نیکه مقبره او د میوند د شهیدانو هدیره یې جوړه کړه، سړکونه او لارې یې جوړې کړې او د "طلوع افغان" اوونیزه مجله یې له پارسو پښتو کړه، چې مسؤول چلونکی یې پوهاند استاد عبدالحی حبیبي و؛ نو د هغه د زیار و ښستلو له امله یې له صلاحیت لرونکیو مقاماتو ورته د برش زره افغانۍ مکافات هم واخیستې.

د ۱۳۱۱ل کال د لیندۍ په میاشت کې یې د کندهار د ادبي انجمن بنسټ کېښود، پوهان یې سره یوځای کړل، لیکوالان یې پر علمي او ادبي چارو بوخت کړل او په پښتو یې میاشتنۍ خپرونه پېل کړه. بیا په ۱۳۱۴ل کال کې دغه ادبي انجمن کابل ته ولېږدول شو او په ۱۳۱۶ ل کال کې د کابل د ادبي انجمن سره یوځای شو، چې په پای کې تري په ۱۳ د اپریل ۱۹۵۸ پښتو ټولنه جوړه شوه.

د ربښتین صاحب پر وینا د پښتو ټولنې لومړنی مشر حبیبي صاحب و، چې اوس یې علومو اکاډمۍ ځای نیولی دی.

دانجمن ځانگې او غړي یې وټاکل د دغه انجمن لومړنی مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد عثمان خان بارکزی وټاکل شو، چې د وزیر صاحب تر مشرۍ لاندې یې ورته لاندې غرضونه وټاکل:

ـ دا انجمن به یوه علمي، ادبي، تاریخي او ټولنیزه مجله خپروي

ـ انجمن کې به پښتو لغات راټولېږي.

ـ انجمن به پښتو قلمي او چاپي کتابونه راټولوي.

ـ انجمن به درسي کتابونه د پښتنو ماشومانو ته له پارسي ژبې پښتو ته را ژباړي او په پښتو ژبه به نور گټور علمي، مسلکي، تاریخي او نور اړین کتابونه راژباړي او لیکي به یې.

له دغه انجمن څخه لاندې گټې هېوادوالو ته ورسېدې:

۱ـ د جنورۍ پر ۷ نېټې کال **۱۹۳۳** د پښتو علمي رساله راپېل شوه.

۲ـ د "معلم پښتو" پر نوم یې دوه ټوکونو کې یو پرېړ کتاب د پښتو د زده کړې لپاره خپور کړو.

۳ـ د "پښتو ښوونکی" پر نوم یې کتابونه ولیکل.

۴ـ په سقوي اړو دوړ کې محمد گل خان مومند "د کور غم" خپرونه پېل کړه. د خپرونې او لیکنې چارې یې ارواښاد جنرال سید حسن شیون ته وسپارلې، چې هغه د ننگرهار په عسکري فرقه کې کندك مشر او د محمد گل خان همکار ملگری و، خو والي علي احمد خان د سلطنت غوښتونکیو او محمدگل خان د هلو ځلو مخه ونیوله.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵ـ يو وخت چې د شوروي اتحاد عالي رتبه پلاوی کابل ته راغلی و؛ نو د افغانستان د دولت له خوا ورته په غازي سټېډيم کې د اتڼ غونډه جوړه شوې وه. ځوانانو به اتڼ کاوه او رنګه دسمالونه به يې خوځول، محمد ګل خان ټوپك او توري سره په خپله اتڼ وکړ او ويې ويل: اتڼ د افغانانو د غزا لوبه ده، چې په هر حرکت کې يې د دفاع کولو فن او هنر دی.

۶ـ د امان الله خان په واکمنۍ کې، چې استقلال ترلاسه شو د افغانستان د پېژندلو لپاره د پاچا د وکيل محمد ولي خان تر مشرتابه لاندې يو پلاوی اروپا او امريکا ته لاړ، چې مرحوم مولينا سيف الرحمن الکوزی، فيض محمد زکريا، محمد گل خان مومند، عزيز الرحمن فتحي، محمد اديب افندي محمد اسلم ميرشکار، عبد الغني ترجمان، غلام جيلاني خان عبد الحميد خان او بشير احمد خان يې غړي وه.

۷ـ يو وخت د امريکا سفير په کابل کې د وزير محمد گل خان مومند بابا سره د ليدلو غوښتنه وکړه. محمد گل خان مومند بابا پر حکومتي نيت سفير ته غرمه ناری او د اتڼ مېله برابره کړه. د خبرو په ترڅ کې سفير وزيرمحمد گل خان مومند بابا ته وويل: تاسې ملي مهم شخصيت ياست، که د افغان او اسلام پر اصولو يو ګوند جوړ کړئ، ملي وحدت به تامين شي او مونږ به درسره مالي مرسته پرته له کوم مقصده تر سره کړو. محمد گل خان مومند بابا ورته وويل: له تاسو مننه کوم، خو زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاونډیان به زمونږ نور ورونه قومونه ولمسوي او زمونږ پر خلاف به ګوندونه جوړ کړي، بلـه بـه دا وي، چې تاسې او شوروي اتحاد به ګډه پرېکړه وکړئ او مونږ به د سولې د پولې په نامه بې مداخلې پرېږدئ؛ نو مونږ به ډاډ درکړو، چې زمونږ له لوري به هیڅا ته ضرر ونه رسېږي.

۸ـ محمد ګل خان د خپل داخله وزارت په وخت کې ټول هېواد پر ۲۱۲ واحدونو وېشلی و، دغو اداري واحدونو کې ولایات، اعلی حکومتونه، لوی حکومتونه، لومړۍ درجه حکومتونه، دوه یمه درجه حکومتونه او اوله او دوه یمه درجه علاقداري شاملې وې. ډېر کوچنی اداري واحد کلی او سیمه وه، چې ۲۵۰-۲۰۰۰ تنو پورې نفوس یې درلود، د کلیو په راس کې ملك یا قریه دار و، د ولایتونو په سر کې نائب الحکومه او د لویو حکومتونو په سر کې حاکم کار کولو.

په ۱۳۰۹ل کال کې د دوه یم اساسي قانون (لومړی اساسي قانون ۱۳۰۲ ل کال کې نافذ شوی و) له مخې دغو اداري تشکیلاتو کې ډېر لږ بدلون راغی. د وزیر محمد ګل خان د وزارت اداري تشکیل په افغانستان کې داسې جوړ شوی و:

"د کابل ولایت، د کندهار ولایت، د هرات ولایت، د مزارشریف ولایت، د قطغن ولایت، د مشرقي ولایت، د پکتیا ولایت، د غزني اعلی حکومت، د پروان اعلی حکومت، د فراه اعلی حکومت، د میمنې اعلی حکومت، د بدخشان اعلی حکومت،

www.melitabrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شبرغان اعلی حکومت، د گرشك اعلی حکومت، تالقان، غورات، ارزگان او بامیان د اداري مرکزو بنسټونه ګڼل شوي وه، چې د ۱۳۴۳ل کال اساسي قانون پورې یې اعتبار درلود.

۹_ محمدگل خان مومند بابا د اخلاقو او شخصیت پر لحاظ د سپېڅلي کرکتر، کلك عزم، پر مذهبي اصولو ټینګ، پر پښتو او پښتونواله مین، د ښو خویونو او پښتني اخلاقو پر جامه ښایسته و. د ده مجلس او مرکه د پښتو، پښتونولۍ او د پښتني خویونو د درس ورکولو مدرسه وه. بې پښتوګي یې بده ګڼله. د ده په وجود کې عسکریت، سیاست، علم او ادب ټول یوځای شوي وه. په دغه سبب په هېواد کې د یو ملي شخصیت په صفت پېژندل شوی دی. ده د پیسو پرځای کیسې ګټلې، په دولت او پیسو پسې یې سر نه خوړاوه، یو زبردست خطیب او ویاند و، فصاحت، جرات او قوي منطق یې درلود، له اخلاقي زړورتیا یې کار اخیست او له حقې وینا یې مخ نه اړاوه.

۱۰_ مېلمنو سره به یې خامخا پر پښتو ژبې خبرې کولې، د ده په مخکې به، چې چا په پښتو کې د بلې ژبې ټکي راوړل ده به سم له لاسه ورته وویل: پوه نه شوم؟ که چا به خپله غلطي سمه کړه، په درنه لهجه به یې وویل، چې ها خدای دې وبخښه! اوس پوه شوم. ده به همېشه له کلیوالو د نا اشنا لغاتو پوښتنې کولې، قلم او کاغذ به تل ورسره په خوا کې پراته ول، چې لغت به یې وا اورېده هغه به یې ولیکه. کړکیچنه او ګډه وډه پښتو یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه خوښېده، چا به، چې پښتو سره بې پروايي کوله هغه ته به يې په ښه نظر نه کتل. ده د نويو لغاتو په جوړولو کې لوی لاس درلود. لکه: د ژبې ليار= قانون وتوځی= مخرج، ننوتوځی (مدخل) او داسې نور.

۱۱_ وزيرمحمد گل خان د پرنگي د استعمار به سل کلنه دوره کې د افغانانو ژبې اوکولتورته له ښکېلاك او يرغل ځخه رسيدليو تاوانونو ته پام کړی و د روسيې او پرنگي د ښکېلاك په سازش هم پوه و او د مخنيوي لپاره يې د افغانستان ختيځو، لويديځو، شمال او جنوبي سيمو کې عملي مبارزه وکړه او د افغانانو د سياسي او کولتوري حق د خپلولو لپاره يې په دغو سيمو کې پراته قومونه د افغان د ملي هويت ساتلو ته متوجه کړل.

محمد گل خان به ويل: سړی په کار کولو شتمن کېږي، په کارد ولس، ژبه او کولتور ساتل کېږي او وده مومي.

کار دی که په ولسي سطحې ترسره شي ولس شتمنوي، که د ژبې په سطحه ترسره شي، ژبه شتمنه کېږي او که په کولتوري سطحه ترسره شي کولتور شتمن کېږي، وده مومي او خوندي کېږي.

ده له غفلته راوتل، ويښ اوسيدل او د خپلمنځيو اړيکو پر خوندي کولو، صداقت لرلو او پر رښتيا ويلو ټينگارکړی دی.

د ده کار هغه وخت نتيجه ورکړه، چې پښتو رسمي ژبه

www.melitabrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



وپېژندل شوه. (۱)

۱۲ـ غازي امیر امان الله خان، چې جونکۍ د تعلیم لپاره یورپ ته ولېږلې په دولت کې درباري مخالفتونه راپېل شول او په ننگرهار کې د کهي چونۍ بیا ورپسې جلال اباد خوږیانیو ونیول او جگدلې ته ورسېدل. محمد گل خان د ننگرهار فرقه مشر او شېر احمد خان یې تنظیمه رییس و. د بغاوت د شدت له کبله تنظیمه رییس تبدیل او یاور محمد جان یې په عوض وټاکل شو. د یاور محمد جان پسې سردار علي احمد جان د ننگرهار د تنظیمه رییس په حیث مقرر شو. وزیر محمد گل خان که څه هم، چې له کابله مرستې غوښتې وې، خو ورته را وه نه رسېدلې. په دې کې سقو کابل ونیو، سردار علي احمد جان او وزیر محمد گل خان د سقو مقابلې ته تیاري نیوله، خو د سردار علي احمد جان نیت و، چې خپله پاچا شي. محمد گل خان مومند بابا د ده پر نیت پوه شو، ملگرتیا یې ورسره؛ ځکه کوله، چې دی د سقو سره جنگ کې مصروف وساتل شي او دی په پټه د یوې بلې منصوبې برابرولو کې د غازي امیرامان الله خان پر پلوۍ یو قوت برابر کړي؛ خو خلك، چې د سردارعلي احمدجان له نیته خبر شول، مخالف شول؛ نو دی وتښتېده د پېښور او کوټې له لارې کندهار کې سقوي قواو سره په جگړه کې ونیول شو، کابل ته واستول شو او پر توپ وویشتل شو.

د پکتیا ولسونو هم د امان الله خان مقابل کې پاڅون وکړ او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړ و دوړ د مخنیوي لپاره محمد نادرخان له فرانسې څخه د پېښور له لارې پکتیا ته ورسېد، چې د سقو مقابلې ته لښکر جوړ کړي. محمد هاشم خان د خوریانیو بازید خېلو کې له وزیر محمد گل خان سره د لښکرد جوړولو په فکر کې و، خو د سقاویانو له رارسېدو سره شاه محمود خان هم پکتیا ته لاړ او محمد گل خان سره د درې سوه تنه لښکرو ورسره پکتیا کې یو ځای شو. د ببرك خان ځدران سره یې، چې پخوانۍ ملگرتیا وه، د هغه همکاري هم شوه او جگړه یې د سقاویانو سره پیل کړه. سقاویانو د محمد گل خان او محمد هاشم خان د ژوندي نیولو پر سر جایزه اعلان کړه. دوی جگړې ته دوام ورکړ. محمد گل خان، شاه ولي خان، شاه محمود خان او نادرخان کابل فتح کړ، خو لومړی محمد گل خان مومند بابا ارگ ته داخل شو. نادرخان پادشاه او محمد گل خان د داخله چارو وزیر او د ننگرهار تنظیمه رییس شو. بیا یې کوه دامن کې امنیت راوست ورپسې یې د کندهار امنیت ټینگ کړ بیا مزارشریف، میمنه او سمنگانو ته پر دندې وټاکل شو. بیا قطغن، بدخشان، قندوز، تالقان او بغلان ته واستول شو او د تنظیمه رییس په توگه یې دندې ترسره کړې.

په ۱۳۱۹ل کې محمد گل خان مستعفی شو. سمنگانو کې یې خپله کرکیله پیل کړه. ۱۳۲۸ل کې کابل ته راغی د بریکوټ په یو کرایي کور کې اوسېده. په ۱۳۴۳ل کال د زړه د ناروغۍ له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لامله د زمري د میاشتي پر (۲۸) نېټې وفات شو. شهداء صالحین کې په اعزازي توګه خاورو ته وسپارل شو(۱) محمد نادرخان د خپلو څلورو ورونو ترڅنګ (شاولي خان، شاه محمود خان، محمدعزیزخان، محمدهاشم خان) وزیر صاحب پنځم ورور ګاڼه او پاچا اعلان کړی و، چې د وزیر صاحب له حکمه سرغړونه داسې ده لکه زما له حکمه سرغړونه او د وزیر صاحب، چې منئ او عزت یې کوئ لکه چې زما حکم منئ او عزت مې کوئ.

یوه ورځ نادرخان وزیر صاحب ته وویل: مانه څه وغواړه! وزیر صاحب وویل: زما سوال درونند دی. پاچا وویل: خبر دی کوښښ به وکړم که زما اوږې یې یوسي. ده ورته وویل: زه درنه په افغانستان کې پښتو غواړم. نادرخان وویل: اختیار مې درکړ. د دې کار لپاره، چې څومره لګښت کیږي د دولت پر سر او ذمه دی. وزیرصاحب د کابل د ټولو سرکاري ادارو سرلیکنې پښتو کړې، په لارو او کوڅو یې د پښتو کتبې ولګولې، شاعران او ادیبان یې وروزل، مالي مرستې یې ورسره وکړې. هغه ورځپاڼې، چې پښتو په کې نه وه پښتو یې په کې ورزیاته کړه. "طلوع افغان" خو یې بېخي پښتو کړ.

د ځینو ځایو نومونه یې په پښتو کړل. لکه "سبز وار" شینډنډ شو. چاردهي څلورکلي شو، باریکاب، نری اوبه، پیش بلك= تېرګړ، بونډه کره= شولګره، کوټه سنګي= میرویس میدان شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده بالا= هسکه مېنه شوه، سیاه چوب ته یې د تورلرګي نوم ورکړ، چهل ګزي ته یې څلويښت ګزی، سرشاهي ته یې شاهیکوټ، لاګرجوی ته یې خوارلښتی او داسې نور نومونه کېښودل.

پوهاند رښتين وايي: که د وزیرصاحب وس رسېدلی د ټول افغانستان د خلکو نومونه یې هم پښتو کول.

د ده ډريور، چې شېرنومېده، ده ورته زمری وايه. همدا محمدګل خان و، چې د پښتو د ودې لپاره یې یو زبردست تحريك وچلولو او داسې وخت راغی، چې پارسي ژبو هم په پښتو عریضې لیکلې. په اخبارو او راديو کې هم پښتو زياته شوه او پښتو ټولنه رامنځته شوه.

وزیر محمدګل خان په خپل کلي ګلايي کې د نوروز خان زرګر خور کړې وه، د ده نارینه اولاد نه و یوه لور یې شته چې(امینه) نومېږي او د لرې پښتونخوا د شبقدر ډېرۍ کې د مهاجرت ژوند تیروي. امینه د غلام حسن خان مرچه خېل مومند پر ځوی صالح محمد خان واده شوې وه، خو دوه کال وروسته هغه وفات شو او د هغه مشر ورور شېراحمد خان ته په نکاح شوه. له شېر احمد خان څخه یې څلور زامن (اکمل خان، قاسم خان، اجمل خان او اباسین) پیدا شوي دي.

د وزیر صاحب یو ورور عبدالکریم خان په حیات اباد کې اوسېږي، چې پخوا د پېښور ښار د ګنج د قاضي خېلو په کوڅه

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې اوسېدو، چې تحصیل درې ته نزدېوالی لري. عبدالکریم خان له وزیرصاحب څخه کشر دی. په ۱۹۱۲م کال پیدا شوی دی. څلور لونې او یو ځوی لري. ځوی یې محمد پتنګ نومېده د څلویښتو کالو او نهه میاشتو په عمر د زړه د ناروغۍ له لامله کابل کې وفات شو او وزیر صاحب دی د ځوی پر نوم ساتلو، چې د وزیرصاحب زیات ناچاپ اثار یې ځان سره د چاپ پر هیلې ساتلي وه. د پتنګ له مرګه وروسته د بابا د اثارو پته د هیچا سره هم نشته او ورک شوي دي.

دا څومره عجیبه خبره ده، چې وزیرصاحب د دومره سترو دندو په ترسره کولو بیا هم د کابل دیوه معلم، چې محمد نبي نومېده دهغه په کور کې د کرایه ورکوونکي په توګه ژوند کړی، خو سردارمحمد داود او سردار محمدنعیم یې په جنازه کې ګډون کړی دی. (۱)

۱۳ـ مزارشریف کې روسانو په سرحد کې نظامي عملیات وکړل وزیرصاحب د روسیې قونصل راوغوښت او ورته یې وویل: که څلیریشتو ګړیو کې خپل عسکر له سرحده لرې نه کړئ مونږ هم نظامي عملیات کوو. په دې خبرو کې وزیرصاحب له جیبه یو کاغذ راوویست قونصل ته یې وښود چې تاسې دومره الوتکې، دومره ټانکونه دومره توپونه لرئ ستاسې عسکر دومره دي، په یوه شپه او ورځ کې دومره سوقیات کولای شئ. ما هم ددغو قوتونو په اندول خپل ترتیبات نیولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي او د جگړې پلان لرو، زه یو جنرال یم.

۱۴_ ده په میوند کې دمیوند دشهیدانو دقبرونو داحترام دمننې او یادونې په لړ کې ددې شهیدانو یوه مقبره جوړه کړه. دا هغه میدان و، چې دملالۍ یوې ټپې په دوه یم افغان انگلیسي جنگ کې پر زلمو داسې جذبه راوسته، چې پر انگریزانو یې ناتارجوړ کړ او (۱۸۸۰) دجولای پر یویشتمې نېټې په دې جنگ کې له دولس زره انگریزي سپاهیانو څخه یواځې ۲۵۱ ژوندي پاتې شول او هغه ټپه دا وه، چې:

که په میوند کې شهید نه شوې
خدایږو لالیه بې ننگۍ ته دې ساتینه

۱۵_ د پښتو پنځه ستوري یې وروزل (عبدالحی حبیبي، قیام الدین خادم، گل پاچا الفت، عبدالروف بېنوا صدیق الله رښتین.)

۱۶_ شمال ته د محمد گل خان مومندبابا لخوا د پښتنو دلېږدونې د کړنو او اعتراضونو حکمتونه فدامحمد فایض داسې ښودلې دي:

۱_ اقتصادي حکمت :

محمدگل خان ته دخپلو دندو په اجراکولو کې دهېواد له ختیځ او لویدیځ،له شماله تر جنوبه حالات ښه معلوم شوي وه او داهیله یې لرله، چې هېوادوال یې سوکاله او هېواد یې ودان او ښېرازه شي؛ نو دې برخه کې څو ټکي وضاحت غواړي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف ـ دا تاثر، چې پښتانه په لومړي ځل وزیر بابا په ژبني او قوي ملحوظاتو شمال ته بیولي دي، سمه خبره نه ده، بلکې پښتانه تر دې د مخه هم په شمال کې اوسیدلي وه،چې د نادر افشار په وخت کې د نظامي خدمت په مقابل کې یې لیږد پیل شوی و او په زرگونو کورنۍ په شمال او شمال لویدیځو ولایتونو کې استوګنې شوې وي ؛نو، ځکه ددوی دا ستوګنو ځایونه او شمېر د تاریخي اسنادو د قیدولو په بڼه ملي او نړیوال ارزښت لري (۱).

ب ـ کله، چې وزیرصاحب پښتانه دهېواد له نورو سیمو شمال ته لیږدول دهغه ځای زیاتره برخې ځنګلونه او شاړې دښتې وي،ګ چې په دغو ځنګلونو کې به زیاتره ځناور اوسېدل او دا متل و، چې "که مرګ غواړې کندز ته لاړ شه". د دې واقعیت ډېره ښه عکاسي کوي؛ نو شمال ته لیږدول شویو پښتنو دغه شاړې ځمکې او ځنګلونه اباد کړل او د افغانستان شمال دې حالت ته ورسېد ، چې شمال ته د افغانستان دغلې کندو وویل شو.

ج ـ دا سې ښېلګه نه شته،چې محمد ګل خان مومند بابا د چا شخصي ځمکه اخستې وي او کوم پښتون ته یې ورکړې وي نو دهندوکش په شمال کې ډېرې سرکاري ځمکې خورا شاړې پرتې وې او ځمکې ځنګلونه کېدل، اوبه ښکاره بهېدلې کرکیله للمي وه او دځمکې ابادول یې په وس نه وه،چې ټوله وکري او حاصل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترې واخلي. د افغانستان په نورو ځینو سیمو کې، چې نفوس ډېر و ځمکويې د غلو دانو اړتيا نه شوه پوره کولای. کرنيزې ځمکې نه وي، گ چې کرل شوې وای د سيمې خلك اړ شوي وه، چې د مزدورۍ لپاره هندوستان ته لاړ شي. غنم او جوار له هندوستانه راوړي؛ نو محمد گل خان دغه بې ځمکې خلك او کوچيان په منتونو او زاريو راوبلل او دهندوکش په شمال کې يې ورته دولتي ځمکې ووېشلې او بې کښته ځمکې يې په دې توگه دکښت وړکړې او دهېواد بېکاره بشري منابع يې په کار واچولې، دنورو له مزدوريو يې راوگرځول اودخپل ملك په ودانولو يې اخته کړل، دخپل ملك حاصلات يې زيات کړل او وږې سيمې يې پرې مړې کړې. دغه راز مومند بابا د قره قل د پوستکو انحصار د افرادو له لاسه وويسته، د سيمې خلك يې تجارت ته تشويق کړل، د ربنتيا او يووالي په نومونو يې په مزار شريف او بلخ کې شرکتونه جوړکړل، چې وروسته د بنو پانگو څښتنان شول.

۲ـ سياسي او نظامي حکمت:

د هندوکش شمال ته د پښتنو په لېږدولو کې د وزير صاحب سياسي او نظامي هدف دا و، چې که خدای ناخواسته روسان زمونږ د هېواد په باب ناوړه نيت وکړي، همدا خلك به د هېواد دفاع کوي. لکه، چې همداسې وشول. کله، چې روس له امو اخوا سيمې لاندې کړې او د هند سمندر ته د رسېدو نيت يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلود؛ نو پر لارې يې افغانستان ته هم نيت بد و. لکه، چې د امير عبدالرحمن خان په وخت کې يې پنجده له افغان خاورې لاندې کړه، دا د روسانو د بد نيت لومړنی گام و. کله، چې روسانو په ۱۳۵۸ل کال پر افغانستان پوځي يرغل وکړ، د هېواد په گوټ گوټ کې ورسره ملي جهاد پيل شو؛ نو په شمال کې پرتو پښتنو لويې پوځي جبهې جوړې کړې، چې قوماندان جمعه خان همدرد، قوماندان بشيرخان بغلانی، انجنير محمد عمر سليمان خېل، چې اوس د کندز والي دی، قوماندان محمد عارف خان، چې په پېښور کې ووژل شو او نور د بېلگې په توگه يادولی شو، چې شمال کې پراته نورو قومونو سره يې اوږه په اوږه مېړانه وښوده او د وزير محمد گل خان د لاس کېښودل شويو نيالگيو ثمره ځرگنده شوه.

۳_ د افغانستان د قومونو ترمنځ د ملي وحدت د پياوړتيا حکمت:

د هندوکش شمال ته د پښتنو لېږدونه کې بل عمده حکمت د ملي وحدت پياوړتيا وه. لکه، چې مو وليدل پښتنو ازبکو، تاجکو، ترکمنو، هزاره و، ايماقو او نورو د ورورنو په څېر ژوند وکړ، د ورونو په څېر يې راشته درشه او مړی ژوندی ټينگ کړ او د هېواد دفاع يې په گډه وکړه، خو روسانو...

## د وزير محمد گل خان ځينې ځرگندونې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وزیر محمد گل خان زیاتي ځرگندوني د پښتو ژبې دودي، سیاسي تعمیم او پراختیا په برخه کې وې، چې ځینې یې په متسقیم ډول او ځینې یې پر ضمني توگې لاندې وړاندې کوو :

۱ـ د افغانتسان د وگړیو د ۱۳۳۴ل هـ کال لویه جرگه کې، چې وزیر محمد گل خان د پاچا نائب رییس وټاکل شو، نو خپله عالمانه وینایې جرگې ته واوروله او بیا د جرگې د غړیو سره غرمه ناری ته گډ کښیناستو، نو وزیرمحمدگل خان او سردار محمد داود په یوه پېنډه کې او مرحوم سردار محمد نعیم د هغو څنگ ته په بله پېنډه کې کېناست.

سردار نعیم ښیښي گیلاس را پورته کړ، وزیر محمد گل خان ته یې وویل : این ظرف ابخوری رادر پشتو چه مینامند؟ محمد گل خان ورته وویل : دغه ښېښي

(اوبلوښی) انگرېزانو جوړ کړی دی، نو په انگرېزی کې ښېښې ته گلاس وایي، پښتانه یي هم گیلاس بولي، خو که اوبلوښي، کلال له ختې جوړ کړی وي، هغه ته کټوری وایې. سردار : این کلمات کاملاً نامانوس استند به خیالم که جام مینامندبابا:

پښتو او پارسي دواړه اریایې خویندې ژبې دي. جام په دواړو کې یادېږي خو کنډول او کټورې ځانگړي پښتو نومونه دي. که تاسې ته ناپېژاندل شوي،او نا اشنا وي تاسې په ملي ژبه پښتو خبرې نه کوئ، که د کابل په ښار کې وگرځئ ټول پښتانه پرې پوهېږي، سردار : چه فرق میکند، زبان وسیله مفاهمه است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**محمد گل خان**: ډېر فرق کوي، که تاسې پښتو د ځينو نورو ژبو سره د صرف او نحو، ادبي علومو او فنونو له مخې پرتله کړئ پښتو ډېره شتمنه ده، او افهام او تفهيم پرې په ښه ډول کېدلای شي، له بلې خوا پښتو او پښتنواله زمونږ ملي فرهنگ دی.

سردار: شما بسيار سخت ميگيريد : **محمد گل خان**: خو زه خپله ژبه پالم، او روزم، نو کوږ ژبي رابانديې د تعصب تور لگوي، که دا تعصب وی، هر څوك خپلې ژبې ته چو پړ کوي، نو سردار محمد داود خپل ورور سردار محمد نعيم ته وويل:

دا بې ځايه خبرې بس کړه.

۲_ د ټاکنې په برخه کې وايي: پښتو د سمو مشرانو مننه ده، او پښتو د خاينو مشرانو رټنه ده، خلاصی او نجات په پښتو کې دی.

۳_ د اتفاق په برخه کې يې ويلي دي:

"که پښتو وه، زه به تا درنوم، ته به ما درنوې، که پښتو نه وي، ته به مادگې، زه به تا دگم، ته به ماسپکوې، زه به تاسپکوم. دواړه به سره دگلي شوو، دواړه به سره سپك شوو، گټه مو څه وکړه؟

۴_ وزير محمد گل مومند: ټولنيز پيوستون او نظم راوستلو لپاره داسي ويلي دي.

"پښتو د مظلوم حمايه ده، په نيمه شپه کې د غږ سره سم د پېښې ځای ته ځان رسول پښتو ده، غله، جاني او خاين پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چیغه وبستل او نیول یبا یې وژل پښتو ده، پښتو صداقت دی.

۵ـ محمد گل مومند د د کلتور په ساتلو کې فرمایلي دي "که پښتون په خپل کاله کې نه وي او نژدې خپل هم ونه لري، د هغه د مال او ناموس ساتنه، د کاله خدمت یې حتی، چې د کاله لګښت (مخارج) یې پر کلیوالو او گاونډیانو دي، پښتو همدغسې معامله د هر چا په حق کې لازمه کړې ده، چې د پښتنو په سیمه کښګې پروت وي، که څه هم پښتون نه وي او بل څوك وي.

۶ـ مومند محمد گل خان بابا تل د ناخوالو او اداري فساد سره مخالف و، او داسې به یې ویل :

"پښتانه په پښتو ولاړ دي، که پښتو نه وي، پښتانه خواریږي، پرځیږي، ستړه یې خبژي او ورکیږي"

۷ـ د خپل وخت د حکمرانانو نه د سر ټکونې او پښتو ته دغونره گڼلو د حق نه ورکولو په اړوند د خپلې یوې لیکنې په پای کې داسې لیکلی دي.

"درستې پېښکولې (ټول مصیبتونه) د بې پښتوګۍ والي له کبله رارسیږي، او نورې لانجې به له همدغې لارې نه را پېښې شي. حکومت د بې پښتوګۍ له لاسه بې پته، خوار، زار، او ورك دی، ټول د بې پښتوګۍ په اور سوي یوو، د بې پښتوګۍ پر اور سوځو، د بې پښتوګۍ پر اور کړیږو، د بې پښتوګۍ پر اور وریتیږو. ښایې د بې پښتوګۍ له لاسه وژاړو، د بې

www.melitabrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو گۍ له لاسه کوکې او سورې ووهو".

۸ـ یوه ورځ اعلحضرت محمد ظاهر شاه سمنگانو.

کې پر پارسۍ او محمد گل خان ورسره پر پښتو خبرې کولې او اعلیحضرت ورته وویل: زه پر پښتو پوهېږم، خو ویلې یې نه شم.

دوی ورته په ځواب کې وویل: صاحبه! زه هم پر فارسۍ پوهېږم، خو ویلاي يې نه شم.[1]

وزیر محمد گل خان نه له هرڅه درنه او خوږه پښتوو، دهغه منشور د پښتوو، ناسته پاسته یې د درنو پښتنو وه، پښتو بې دوا گڼله، پښشتو بې شفا او حیا گڼله، د هغه په خیال پښتو کې ټگي او خیانت نشته، پښتو د صداقت، عفت، عصمت، عظمت او غیرت نوم دی هغه په خپل دفتر کې غټ لیکلي وه:

"ښ ا غلیو ! پښتو و و ا یا ست"

که په قندهار کې و، که په سمنگانو کې و، که په مزار شریف کې و، همدا حکم یې کړی و،

ده ویل: که په افغانستان کې ژوند کوئ: پښتو به لیکئ، پښتو به وايئ او بس؛ نو که څوك دا تعصب بولي بیا،. خو د هرې ژبې والا د تعصب په ختهو کې نښبتي دي، ځکه چې هر لیکوال او شاعر او هنر مند د خپلې ژبې دودې او برتگ خبرې

---

۱. همیش خلیل (د مومند بابا یاد) د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز (۸۳۸۲) ل کال، پېښور چاپ ۲۰ مخ.

www.melitahrir.com 0777 400 118

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي او خوبونه ويني، ځکه نو، يوائې وزير صاحب ولې گرميږي، هغه پښتون د پښتو حق پر ځان ومنلو، پښتو د هغه د مور ژبه وه، هغه د زور خاوند و، هغه ليدل، چې افغانستان باندې لږ تر لږه شپيته فيصده پښتون پروت دی، او پاتې ثلويښت فيصده باندې ازبك، ترکمن، تاجك، هزاره، بلوڅ او نور پراته دي. پښتو د پښتون حق دی اوس که څوك خپل قوم د حق غوښتنې لپاره را بيدار وي، ولې ورته بل د تعصب نوم او رنگ ورکوي نو دوې ته به ددوي انصاف ووايو که کينه او تعصب؟

د وزير محمد گل خان ويناوې پر لوړې، منځنۍ او ټيټو پوړيو يو راز اغېز لرلی دی.

يوه ورځ، چې د افغانستان د صدر اعظم شاه محمود خان غازي د اهتمام د جلالکوټ په بادشاهي باغ کې درنه عمومي جرگه جوړه شوې وه، د کابل د شور بازار نورالمشايخ حضرت صاحب هم موجود و، د صدر اعظم له خوا رييس تنظيمه عبدالاحد خان ملکيار ددغې جرگې ميلمه پال و، کله چې وزير محمد گل خان مومند بابا پورته شو او وينا يې پيل کړه، د افغانستان په تاريخي، عنعنوي، روداياتو د هغه وخت پر حالاتو او ددې درنې خاورې پر عظمت او لوړتيا يې داسې ځپانده او هځانده او پراخه وينا وکړه، چې ټول حاضرين ورته حيران پاتې شول، او صدراعظم ورته پر ځانگړي انداز کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس پر اشارې وزیر صاحب د ځان پر لوري متوجه کړ، وزیر صاحب شکي شو او دخپلو خبرواندازیې د نرمښت لوري ته راستون کړ.

۹ـ وزیر محمد گل خان ویل :

"دا، چې زیات دولت سره لاس وس کوم، ستره غوښتنه مې په کې داده، چې پښتانه په کې یو ځای ته ورسوم" .

۱۰ـ سردار نعیم په مسکا له محمد گل خان مومند بابا پوښتل چې: وزیر صاحب! " مردم میگوید که شما رباب را شرنگ سوټی میگوئېد." وزیر صاحب په پښتو ورته لگیا شو :

دا ماپسې افتراده، دا دروغ دي او دا ډېره چټې خبره ده او ویې ویل: رباب د پښتنو د حجرو او دېرو ډېرو زوړ تاریخي او روایتی ټنگ ټکور یوه برخه ده، او مونږ دي ته رباب وایو. دا د نورو درواغ دي، په دې وخت کښېگې سردار نعیم خان مسکی مسکی کېده او وې ویل: مردم مېگوید که شما اسمان را پاس پاس میگوييد" بیا ورته وزیر صاحب وویل : دا هم درواغ او افتراده اوزه اسمان ته اسمان او هسکمن وایم، پاس پاس هیڅ معنی نه لري.

۱۱ـ وزیر محمد گل خان له خولې ویل شوي دي چې زه جنرال وم او د امان الله خان پاچا هي وه، سهار مې نظامي کالي واغوستل، د کار پر لوري رواند بدلم، چې له باندې کوټې مې دغه غږ واورېد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



" او افغان خر ادم شو" ما ور خلاص کړ ! او هغه سړي ته مې وويل : کا کا يو بل خر دلته دی، هغه چې زه د جنرالی په کاليو کې وليدم، وي ويل : نه خير شما نور چشم و بادار ما هستيد " ماوويل : نه داسې نه کېږي، که هغه خر دی، زه هم خر يم، مونږ بېل نه يو. بيا مې ځان سره وويل : دا خيرن پښتون، د ا پمن پښتون، دا زما پښتون دی. زه گنهگاريم، چې خپل پښتون ته مې څه نه دي کړي. له دې وروسته مې هوډ وکړ، چې زه د پښتانه لپاره کار کوم، نو څه، چې مې وس و هغه مې کول. دا دومره امپراتورۍ او پېړۍ پېړۍ پادشاهۍ خو پښتون سړی نه شو.[1]

۱۲ـ وزير صاحب ويلي دي : د ولس ببلوالی او کرکه پر پښتو ورکېږي ځکه، چې (اتفاق) او يووالی پر پښتو راځي، پښتو ده، چې له پښتنو يو پوړ، يوه کورنۍ، يو ټبر، يوه کوړمه، يو کهول او يو ولس جوړ وي.

۱۳ـ محمد گل خان ويلی : که پښتو وه، زه به ستا پر شتوالی خوښ يم، ته به زما پر شتوالی خوښ يې. که پښتو نه وه، ته به زما ورکه غواړې، زه به ستا ورکه غواړم، يو له بله سره به گورو ، چې خدای (ج) څه کوي

۱۴ـ پښتو خورا گران امانت دی، چې له نيکونو راپاتې ده.

---

۱. حداد فرهاد قدرت الله (د مومند بابا ياد) د ساپي د پښتو خپرونو او پراختيا مرکز ۱۳۸۳ هـ ش کال پېښور چاپ ۲۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ د نیکونو وصیت دی، چې باید دغه امانت د درست ولس د ګټې لپاره بې له خیانته خپلو زامنو، لمسو، کړوسو، پړدو، او د هغو نه وروستو ته پرله پسې ور ورسوو او روغه یې ورو سپارو.

**۱۵**ـ پښتو د پښتنو د بري او لوړوالي ضامنه ده، پښتو د پښتنو دلوړوالي وسیله ده، د پښتو او پښتونوالې وده پر پښتو کېدلای شي او د ژوندا نه خوند بر پښتو اخستل کېږي.

**۱۶**ـ پښتو د پښتنو په ولس او ټولنه کې لکه روح په کالبد کې دی، لکه څنګه، چې په کالبد کې روح نه وي، کالبد خوشې شی دی، همدغسې که د پښتنو په ټولنه کې پښتو نه وي، نو د پښتنو ټولنه به خوشې شی وي، بلکې لکه چې روح له کالبده بېل شي خورا ښایسته وجود خراب، بې ډوله او ترمن ګرځی، چې څوك ورته کتلی او ور نږدې کیدای نه شی او هر څوك ترېنه تښتي، همدغسې که د پښتنو نه پښتو لاړه، نو د پښتنو ټولنه به هم ببدو هماغسې شي خدای(ج) مو دې تنې (ترینه) ساتی.

۱۷ـ کله، چې انګریزانو د افغانستان په کورنیو
چاروکې ښکاره ـ لاس وهنه او مداخله پېل کړه

د افغانستان دخارنې لپاره یې (محمد ګل خان مومند بابا) وټاکل شو. انګریزانو د ننګرهار په ببلا ببلا سیمو کې پر الوتکو الوزولو هم صرفه ونه کړه،مومند بابا دغه عمل وغندلو او انګریزانو ته یې پر دې عمل زبردست احتجاج وکړو، او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



احتجاج پایلې یې ټولو هېوادونو ته ولېږلې ده لیکلي چې:
"ټولو هېوادونو او حکومتونو ته دې څرګنده وي، هغه چا، چې افغانستان سره معاهدې کړې دي که سیاسي دي، که اقتصادي او که د دوستۍ دي، د امان الله خان په وخت کې شوي دي، افغانستان به ددې ټولو احترام کوي او منې به یې. په افغانستان کښې روان انتشار یا انارشي به پر هغې هیڅ ناوړه اغېز نه کوي، او دا ټولې معاهدې به د اعتبار وړ بولي، د دغو معاهدو د اعتبار او اعتماد په باره کې مونږه ټولو هېوادو نو ته یقین کولو ډاډ ورکوو، که د سقاو ځوی یا امان الله یا علي احمد یا بل څوك داسې لوظنامې یا معاهدې وکړي، چې د افغانستان استحکام ورسره په خطر کې پریوځي، نو دافغانستان حکومت به هغه هیڅکله هم ونه منې او پر خپل ټول قوت او صلاحیت به ددې د باطلولو لپاره اقدامات کوي او هېڅ داسې عمل ته به اجازه ورنه کړي، چې د دوی ملي حاکمیت او سیاې خپلواکي په خطر کې واچوي.[۱]

۱۸ _وزیر صاحب پښتو ته څنګه لوری را وګرځولو ؟

"د پښتو ژبې د لیار یا صرف او نحی په مقدمه کې یې لیکلي دي: پر ما د وړکوټوالي عمر د پښتو په محتواکې نه دی تېر شوی، له خپلوانونه لیري د کابل په ښار کې لوی شوم، له

۱. انشاء ډاکټر میا سهیل _ د مومند بابا یاد، د ساپي د پښتو خېړنو او پراختیا مرکز د ۱۳۸۳ ل کال چاپ ۱۲۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزیزانو سره مې که څه هم ارتباط شلېدلی نه دی، خو ډېر ټینګ هم نه دی.

هو کې : پښتو مې زده وه، خو لږه مې ویلی شوه، خو د لږو ویلو له لامله کرکیچوده او وه، ولې وروسته په لوي والي کې چې پرې پوه شوم، د پښتنو عزیانو سره مې لار مینده کړه، پښتو ته مې مخ کړ او څه معلومات مې په کې ډېر کړل، خصوصا د ګرانو عزیزانو او غښتلیو شینوارو پېغواره را وېښ کړم.

۱۹ـ وړاندې وروسته شاو خوا ټول ښه او بد، ګټه او تاوان، هر څه په پښتو راڅرګند ېږي، پښتو ده چې ننګیالي نیکونه راپېژني او هغوی ته مو رسوي، پښتو به وي، چې زمونږ لمسي، کړوسي کودي او پردي او دهغوی نه وروستني به له مونږ سره را ښلوي، د پښتونوالې اثبات به سره کېږي د دغه لپاره چې اوسنی او روستني پښتانه ځانونه خپلو نیکونو ته ورسوي اوثابت کړي، چې دوی پر رښتیا د هغوی رښتیاني لمسي دي. ښایې چې د صرف د اشتقاق د اصولو په شان لفظي او معنوي بشپړ مناسبت په مینځ کې موجود وي اودغه مناسبت بې له کوم تغییر او خلله ټینګ وساتل شي، که نه په تشو دعاګانو او خوشي خبرو او پر پړونه څوك پښتون کېدای شي او نه څوك پښتون ګنلاي او منلای شي.

۲۰ـ پښتو زده کړئ، پښتو نورو ته ورزده کړئ، پر پښتو خبرې وکړئ، له نورو سره پښتو وویاست، او له پښتو ویلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره يې روږدي کړئ، دا د افسوس خبره ده چې که په غونډه کې ټول ناست پښتانه وي او يو کس راکې د اسې وي، چې پښتو نه شي ويلای او په بله ژبه کړېږي نو ټول ناست کسان د يو کس لپاره پښتو پرېږدي، خو يوکس د ټولو لپاره ځان ته نه مجبور وي چې پر پښتو خبري وکړي، تاسې هڅه وکړي چې دغه شان کسانو ته پښتو ورزده کړي، او پر پښتو ويلو يې روږدي کړئ، پښتو رسمي دفترونو ته ور دننه کړئ، پر پښتو ژبې ليکل او لوستل وکړئ، ليکونه، غوښتنليکونه او وړانديزونه پر پښتو ژبې کوي. پښتو ژبې او پارسي ژبي سره يو ځاي ناسته ولاړه کوئ، چې هغوي پښتو او تاسې پارسي پوره زده کړئ، که تاسې ځان ورسوئ، زده کړې هم خلاصې کړئ، نو پر پښتو ژبه کتابونه وليکئ، پښتو ژبه علمی کړئ، او د علم ژبه تري جوړه کړئ، چې هر څوك ځان مجبور کړي د خپلو معلوماتو د زياتولو لپاره د پښتو کتابونه واخلئ، ويې لولي او ځان پرې پوه کړي، پر دې توگه يې ټول به پښتو زده کړي، او دا خبره به له مغزو ووځي، چې پښتو ژبه گرانه ده.

۲۱_ پښتانه پر پښتو چلېدلي وه (ول)، او پر پښتو به وچلېږي. پښتانه پر پښتو پېژاندل کېدل، پر پښتو به پېژندل کېږي او پر پښتو به وپېژندلای شي.

۲۲_ پښتو معنا ده، پښتو وعده ده، پښتو اثبات دی، پښتو پايله ده، پښتو محکمه ده، پښتو قانون دی، پښتو پرېکړه (

(c) ketabton.com: The Digital Library



فیصله ) ده، پښتو ضابطه ده، پښتو نظام دی، پښتو انتظام دی، پښتو سسبالونه ده، امنیت په پښتو کې دی خواخوږي په پښتو کې ده
عدالت په پښتو کې دی، پښتو نیاو ( انصاف) دی، او مساوات په پښتو کې دی.
په پښتو کې هغه رښتینې دیمواکرسي ده، چې ټګي، چل ول، افراط او تفریط په کې نشته، ظلم او استبداد پر پښتو ورکېږي.
۲۳_ پښتو په حق دربدل دي، پښتوکې ناروا نشته او ناروا پښتو نه د. پښتو صبر دی، پښتو حوصله ده، پښتو زغم ( تحمل ) دی، پښتو کار کول دي، او پښتو هاند او کوښښ دی. پښتو زیار ویستل دي، زیار کښل په پښتو کې یو صفت دی، چې دوي پرې سر لوړي کوي، او پښتانه پرې ساتل کېږي. لټي، بیکاري، نازولتوب بې پښتوګي ده.
۲۴_ د پښتو رنګ پر پښتو ښه کېږي، پښتو د پښتنو د زلمو ښکلا او د پېغلو ښایست دی، پښتو د پښتنو ګانه ده، پښتو د پښتنو د نارینه وو پګړۍ او د ښځو ټیکری او پړونی دی. پښتو د پښتنود ښځو ستر دی، پښتو د پښتانه د ناموس ساتنه پر هر پښتانه لا زمه ګرځولې ده، پښتانه د پښتانه د ناموس په ساتنه کې پر سر او مال ولاړ دي.
۲۵_ پښتو د پښتنو هغه مهم وسله ده، چې په هر ډګر کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی بریالي کړي او هېڅ یوه وسله ورسره مقابله نشي کولای، پښتو لوړ همت دی، پښتو ننگ دی، پښتو غیرت دی، پښتو صمیمیت دی، پښتو جرات دی، پښتو اراده ده، پښتو هوډ او عزم دی. پښتو قانون دی، په پښتو کې درواغ نشته، په پښتو کې غیبت نشته، په پښتو کې وعده خلافي نشته، په پښتو کې چټیات ویل نشته، په پښتو کې خلکو سره بد سلوکښي نشته.

۲۶_ هر کار باید پر پښتو، خو د اسلام په چوکاټ کې دې تر سره شي.

۲۷_ پښتو ته په ښه نظر نه کتل په حقیقت کې د پښتون را پارول دي او که پښتو خدای(ج) مه کړه له نظره وغور ځول شی، ټول ملت ته به خطر متوجی شی.

۲۸_ پښتو پښتنو ته امر کوي، چې کار وکړئ، زیار وکاږئ. پښتو پښتانه ته اجازه نه ورکوي چې: بې ځایه او بې دوده لگښتونه وکړي.

پښتو پښتانه سړي ته اجازه نه ورکوي، چې د ځان گټې لپاره بل چاته تاوان ور ورسوي، یا خیانت وکړي، بلکې پښتو غواړي، چې پښتون سړی د نورو پښتنو او مسلمانانو د گټې لپاره د ځان تاوان وکړي او پرې خوښ هم وي. پښتانه به دې خبره ایمان لري، چې گټه او تاوان عزت او ذلت هر څه د خدای (ج) په لاس کې دي، پرته دده له ارادې هیڅ نه شي کولای، نو ځکه پښتو کې ویره نه شته او پښتانه نه وېرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۹_ پښتو سمه عقیده ده، پښتو ایمانداري ده، پښتو پر مسلمانۍ ننګېدل دي او پښتو سعادت ته ورغلې سمه، سیخه لاره ده.

۳۰_ پښتانه د ژوندانه درستې ګرانۍ یواځې پر پښتو زغملي، له سره اړولي او له ځانه لیرې کولای شي، پښتو متانت، ثبات او استقامت دی.

۳۱_ پښتو پر پښتنو درېدل، سر او مال ترینه جارول دي. پښتو د پښتنو د ژوند و ساه او د مړو کفن دی.

وزیر محمد ګل خان

لنډکې پښتو او پښتونواله

www.melitabrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وزیر محمد ګل خان شاعري:

وزیر محمد ګل خان په یوه مشاعره کې لاندې شعر ویلی دی او د کابل مجلې په ۱۱-۱۲ ګڼې کال ۱۳۲۷ ل.هـ کې خپور کړی دی.

پښتو مین په تا یم که وم وم که نه وم نه وم
هر کله به دې ستایم که وم وم که نه وم نه وم
پښتو د بڼ چوڼی یم شور به کومه پښتنو ته
تل دوی ته په وینا یم که وم وم که نه وم نه وم
د رب مخ مې د روړی پښتنو پښتو کړئ ټینګه
زه تا ته په ژړا یم که وم وم که نه وم نه وم
دروغ مې هیڅ زده نه دي هم ټګي نه شم کولای
پښتون یم په رښتیا یم که وم وم که نه وم نه وم
خبره د زلمو ده چې پښتو ته ځان تکړه کړي
زه زوړ یم او بوډا یم که وم وم که نه وم نه وم
غلیمه ورځ به راشي چې له تا سره ګټل شي
څرګنده درته وایم که وم وم که نه وم نه وم
لیلا د مجنون نه کړم زه به وینځه ستا په مخ کې
مجنون د ستا لیلی یم که وم وم که نه وم نه وم
نړۍ ټولې ښایستې به له پښتو خپلې نه ځار کړم
تر مړینې به همدا یم که وم وم که نه وم نه وم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو کوکیانه ښه ده په همدې درست ګلستان کې
د دغـه بـڼ بـورا یـم کـه وم وم کـه نـه وم نـه وم
کـه نـه وه پښـتونواله او اعمـال اسلامي را کـې
پیرنـګ د اروپـا یـم کـه وم وم کـه نـه وم نـه وم
که خوشې کړم پښتو بې پښتوګي کړم زه نن غـوره
نـو خوشـې بـه ببـړا یـم کـه وم وم کـه نـه وم نـه وم
که خوړ ژوندون مې پلورم او ځان وژنم بل لپـاره
نـو پـوهې کـې سنډا یـم کـه وم وم کـه نـه وم نـه وم
په ختـه سپین پښتون یم محمدګل د قـام خـادم یـم
لـه سـتې نـه اریـا یـم کـه وم وم کـه نـه وم نـه وم

## د اروابناد د شعر بېلګه:

پـــلار نیکـــه مـــې پښـــانه وه یـــم پښـــتون
زمـــری یـــم، زمـــرزی یـــم او زمربـــون
زه پښـــتون یمـــه ښـــکاره یـــم لکـــه لمـــر
و غلـــیم تـــه تـــل ولاړ یـــم لکـــه غـــر
مـــا تـــه ورځ د ننـــداري ده ورځ د جنـــګ
ورتـــه درومـــم پـــه اتـــڼ او پـــه غورځنـــګ
د غـــورځي غړونـــه زمـــا لکـــه تنـــا
برېښـــېده د تـــورې زمـــا لکـــه برېښـــنا
د زمـــري غونـــدې غـــورځې کړمـــه غړمبېـــږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لــوړو غــرو، نــه لکــه تــوی غونــدې بهېــږم
پــر غلــيم بانــدې چــې راشــي زمــا وار
د اســمان تنــدر بــه وي زمــا ګــذار

زه پښــتون يمــه پښــتو بانــدې څرګنــد
کــه دا نــه وي زه بــه يمــه خوشــې شــنډ
پــاتې شــوې مــې لــه پــلاره ده پښــتو
ده پښــتو او پښــتنواله د هغــو
پښــتو زده کــړه ده د علــم او کمــال
پښــتنواله ده ښــه تــوره او ښــه ډال
ښــه خويونــه ديانــت مــو ده پښــتو
ښــه دودونــه او ادب د پښــتنو
پښــتنواله پښــتانه هوســوي
پښــتنواله پښــتانه بــه لــوړوي
پــه پښــتو بانــدې وطــن دی ګټــل شــوی
پــه پښــتو بانــدې وطــن دی ســاتل شــوی
هــم بــه بيــا وي پــه پښــتو بانــدې ګټــل
هــم بــه بيــا وي پــه پښــتو بانــدې ســاتل
پښــتو کړمــه پښــتو وايمــه زه تــل
ده پښــتو زمــا لالــۍ نــه لــرم بــل

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـر او مـال مـې دواړه جـار دي لـه پښتو
ژونـد او مړینـه مـې نثـار دي لـه پښتو
پښتـانه کـه د پښتـو پـه لاره ځـي
دا نـړۍ او هـا نـړۍ کـې دي خونـدي
پښتـانه او پښتـونواله دې وي تـل
لـه پخـوا نـه یـو پـه لـس او یـو پـه سـل

## تقریر:

وزیر صاحب یو شعله ور مقرر هم و، د هغه تقریر به د ولس د سوچ سره برابر و. هغه د خپل قام د زړه د راز نه ځان خبرولو، په خپلو تقریرو کې به یې هغه څه ویل چې د افغانستان ولس غوښتل، که د هغه تقریرونه راټول کړای شي، د نوي نسل لپاره به د رڼا ډیوې او د منار حیثیت ولري.

په ۱۹۵۵م کال د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په لاس د لویې جرگې تشکیل وشو او دې په کې نایب رییس وټاکل شو. په ۱۳۳۴ ل.هـ کال چې دغه جرگه د اعلیحضرت له خوا پرانستل شوه، محمد داود خان صدراعظم و او د نورو جلسو لپاره وزیر محمد گل خان نایب سالار وټاکل شو.

د لویې جرگې اوله جلسه کې چې د نایب رییس له خوا پیل کېږي. د بهرنیو هېوادونو سفیران هم په کې گډون کولای شي او د سامعینو حیثیت لري او د نایب رییس وینا پسې تول

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفیران او هر هغه څوك چې رسماً د لويې جرګې رکنيت نه لري، له تالاره وځي نو په هغه وخت کې چې سفيران حاضر وه نايب رييس د خبرو په ترځ کې وويل:

افغانستان مستقل مملکت او مسلمان ملت دی، افغانان صلح دوست، اعتدال پسند، د حق او عدالت پلويان دي، د الجزاير يادونه يې وکړه او د فرانسې سفير ورته متوجه و او د لويې جرګې هرې غونډې کې يې د پښتون په توره او بده ورځ خبرې کولې، عبدالمجيد د معارف وزير به همېشه د پښتو ژبې مخه په تعليمي ساحو کې نيوله نه يې غوښتل چې پښتو له پاړسو مخکې شي؛ نو په لويې جرګې کې محمد ګل خان مومند په داسې حال کې چې صدراعظم هم موجود و وويل: ستاسو په کابينه کې دا ښه وزير نه دی، په داود خان دا خبره ښه ونه لګېده، غوښتل يې چې څوك پيدا کړي چې ځواب يې ووايي، خو د محمد ګل خان مقابلې ته چا زړه ښه نه کړ او خپله وزير عبدالمجيد خان چې غوښتل يې څه ووايي، وزير محمد ګل خان ورته فرصت برابر نه کړ او نه يې وخت ورکړ، دا هم د ده دروندوالی و، وزير صاحب هر چا سره په پښتو خبرې کولې.

وزير محمد ګل خان په نثر ليکلو کې ځانګړی سبك درلود چې نمونه يې دا ده:

## د وزير محمد ګل خان نثر:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"هر څه چې دي د ملت سعادت سلامتیا، عافیت، راحت، عزت، ملي شته والی، هر ډول لوړوالی، د ملي ګټو پاینه، د وطن ساتنه، په عزت او هوساینې سره ژوندون، په عزت سره مړینه او د نړۍ څخه په ښه نامه تګ دا ټول د ملي یووالي، ملیت او یووالي، پورې له ملي ژبې پورې اړه لري نو که ملي ژبې خلل مینده کړ دغه ټول خلل مینده کوي او که محوه شوه، نو دغه ټول محوه کېږي او د دغه ملت نوم او نخښه د نړۍ له مخه ورکېږي.

## د وزیر محمد ګل خان وفات:

وزیر محمد ګل خان مومند په ۱۳۴۳ل.هـ کال د زمري د میاشتې پر اووه ویشتمه د سه شنبې پر ورځ د سهار په اتو بجو د کابل د بریکوټ په کرایی کور کې د اتیا کلو په عمر ساه ورکړه او د شهدای صالحینو په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو- په دغه توګه پښتو او پښتونولۍ خپل حقیقي او واقعي پالونکی له لاسه ورکړ، د ده جنازه د مازدیګر پر څلورو بجو د ده له کوره واخستل شوه او د جنازې لمونځ یې د عیدګاه په جماعت کې ادا شو، د ده په جنازه کې د کابل لوی لوی خلك، ملکي او عسکري مامورین او نور ډېر علاقه مندان شامل شوي وه او کله چې خاورو ته وسپارل شو. قرائت تلاوت شو، سید قاسم رښتیا د مطبوعاتو وزیر غږ کړ چې یوائې مولانا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارشاد د دیني چارو رییس خبرې کوي نو لومړی مولانا محمد شاه ارشاد د ده لنډه ژوندپانه ولوسته او د ده خدمتونه یې وستایل. وروسته صدیق الله رښتین لنډو جملو کې د ده عسکري، سیاسي، علمي او ادبي خدمتونه یاد کړل او دی یې د دې عصر خوشحال ختټك وباله؛ ځکه، چې د هغه په شان دی هم د تورې او قلم خاوند و، د سیاست د میدان پهلوان او غوښتلی عسکر او جنرال و.

په پای کې یې د اشرف خان هجري دا بیت ولوست:

چې چراغ د هنر ځمکې پوشیده کړ
که یې زه په اوښکو ډوبه کړم سزا ده

په قبر لا خبرې خلاصې نه وې چې یو شمېر غټ غټ چپن اغوستونکي ازبکان او ترکمن ساه نیولي او په منډو راورسېدل، په لوړ غږ یې وویل: خدا محمد ګل خان را بیا مرزد بما بسیار خدمت کرده بود اولاد اولاد ما دعاګوی او است."

## د محمد ګل خان فاتحه:

د بابا عمومي فاتحه د کابل ښار د حاجي محمد یعقوب په جوماتکې د میراجان سیال په مشرۍ اخستل کېدله چې اعلیحضرت محمد ظاهر شاه هم له سهاره ورته راغلی و، پاچا د خپلې ناوزګارتیا له کبله فاتحو ته ډېر کم تلو، خو د خان بابا فاتحه کې شل دقیقې ناست و، بیا یې یو تقریر وکړ او ویې ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



:

"محمد ګل، خان زمان و، ما ته له هر چا نه ګران و، په کار خو دا وه چې د ده فاتحه ما اخستې وای خو تاسې له ما مخکې شوئ، لوی انسان و، خدایږو که روانه پېړۍ کې پښتنو کې داسې عظیم او عملي انسان پیدا شي.

د اروابناد بله فاتحه د پوهنې د وزارت له خوا د اسد پر ۲۸-۲۹ د شیرپور په لوی جومات کې واخستل شوه. د ده دعا ته د افغانستان پاچا محمد ظاهر خان او نور ډېر خلك راغلي وه. په دې وخت کې زه (بناد جبار خېل) قضايي مفتش د هزاره جات په دای کنډي (اوس په ملکي وېش کې ولایت) کې د قضايي چارو په پلټنه بوخت وم چې د وزیر صاحب د وفات خبر مې واورېد؛ نو ما یې هلته د فاتحې اخستلو هڅه وکړه. دا ځکه چې د ده د پښتو پالنې پښتونولۍ او د مېنې د پالنې په لاره کې مو چې قدم اخستی و خلکو د دوه یم محمد ګل خان نوم رابخښلی و نو زما ډېر ښه ابسېده. خدای تعالی دې وبخښي.

## د محمد ګل مومند ورثه:

وزیر محمد ګل خان نارینه اولاد نه درلود، یوه لور یې لرله چې اوس هم ژوندۍ ده او د لعل پوري شېر احمد خان ته ناسته ده.

ورور یې محمد کریم خان نومېږي چې اوس هم ژوندی دی.

محمد ګل خان مومند چې کوم مادي، سیاسي، معنوي اداري

www.melitabrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اقتصادي امکانات لرل. که د نن ورځې د مغرضانو لاس ته ورغلي وای څه نخرې به یې کړې وې. محمد ګل خان وزیر و، فرقه مشر وه، تنظیمه رییس و، نائب الحکومه و، حکمران و، خو ده یو خام کور هم نه درلود، په خامه کرایي کور کې اوسېده او هغه کې یې خپل رب ته ساه ورکړه او په اخرو شپو کې یې هم قلم په لاس د پښتو د لغاتو څېړنې یې کولې، یعنې تر وروستۍ سلګۍ پورې د پښتنو او پښتو ادبیاتو خدمت کې لګیا و؛ د دغه ستر ملي، اداري، پوځي او ادبي شخصیت یوه یاد غونډه پېښور کې د صابر شاه صابر پر مشرۍ خلیل ادبي جرګې په ۱۹۹۷ میلادي کال او څلوېښتم تلین یې پېښور کې امام الدین ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز پر نوښت د قتیل خوږیاني په سرپرستۍ کې لمانځل شوې او دغه راز باز محمد ملیار د چپرهار د کندیباغ او سیدونکي د پېښور په ارباب روډ کې د محمد ګل مومند بابا په نوم لیسه فعاله کړې ده. زما وړاندیز دا دی چې افغانستان کې باید د ده په نوم ډېر څېزونه ونومول شي او د ده یاد پرې تازه وساتل شي.

## اداري چارې:

د وزیر محمد ګل خان مومند پاملرنې او کړنې په اداري چارو کې د څېړلو وړ دي. بابادهېواد په اداري چارو کې دپوهې، پاملرنې او پخې تجربې خاوند و، دده دکار دوره د اماني

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت او بیا له سقوي دورې وروسته د اعلیحضرت محمد نادرشاه دورې سره برابره وه، د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه په دوره کې یې هم اداري چارې پرمخ بیولې دي، خو د اعلیحضرت محمد نادرشاه په وخت کې د کورنیو چارو وزیر و چې اصلاحات یې ډېر دیادونې وړ دي. زمونږ ځوانان باید پوه شي چې زمونږ د محمد گل خان مومند شهرت او ډېره پېژند گلوي د دې لپاره شوې او کېږي چې نوموړي په ډېرو حساسو شرایطو کې د سقاو د ځوی له کړنو وروسته د کورنیو چارو وزیر ټاکل شوی و، چې د عامې اداري تطبیق همدې وزارت پورې اړه لرله.

ښه به وي چې له یوې خوا ځوان نسل د وزیر صاحب د اداري پاملرنې پر کړنو پوه شي او هغه ناوړه تورونه چې ځینو خلکو پر وزیر صاحب لگولي، رد کړای شي، له بلې خوا دا به د یوې تجربې او درس حیثیت هم ولري؛ کوم چې نن دادی بیا ورته کلکه اړتیا لیدل کېږي.

دلته له انگریزانو سره د جهاد او استقلال گټلو لپاره د هغه د کارنامو، د سقو د ځوی په راپرځولو کې د هغه د اتلولۍ یادونه او څېړنه اړینه ده، خو د ده د فرهنگي کارونو تاریخي حقایق نه دي راغلي ځکه چې پر اړه یې څېړنه د یو بشپړ کتاب خبره ده.

مونږ یې دلته صرف له ۱۹۲۹م کاله وروسته د اداري اصلاحاتو، د نفوسو د ځای پر ځای کولو، د اقتصادي روغونې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دمناسبې اداري جوړولو په برخه کې چې يې څه کړي، لنډه کتنه کوو :

## لومړی- اداري اصلاحات :

د ۱۹۲۹م کال په نيمايي کې حبيب الله کلکاني ماتې وخوړه او محمدنادرشاه کابل ونيو. په دغه وخت کې د کابل ښار دومره ويجاړ شوی و، چې يودفتر هم روغ نه و پاتې، محمدنادرشاه دمجبوريت له مخې دخپل يو اشنا په کور کې اوسېده، څو چې ارک جوړ شو، نو په اداري اصلاحاتو کار پيل شو. درې ګونې قوې پيلې شوې، وزارتونه جوړ شول اوهغو ته تشکيلات منظور شول. دغه اداري تشکيلا تي چارو تر ۱۹۳۲م پورې دوه نيم کاله ونيول. دتجارت وزارت کې ښه کار وشو، دکرنې رياست هم فعاليت کاوه، نايب الحکومګيو، اعلی حکومتونو او علاقه داريو باندې کار وشو او مناسب اداري وېش رامنځته شو. کابل ښار ښېرته دښار ښه ونيوله، ارګ هم ترميم شو دا ټول کارونه دمحمدنادشاه لپاره ستره کاميابي شوه. ددغه برياليتوب راز په دې کې و چې صدراعظم سردارمحمد هاشم خان داخله وزير محمدګل خان او دکابل ښاروال عبدالرحمن لودين يې دحکومت غړي وه. دسردارمحمدهاشم خان دکابينې دکورنيو چارو وزير دې ته متوجه و چې بايد اداره جوړه شي په خپله محمدنادرخان او دده دوه ورونه محمدهاشم خان او شاه

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمود خان هم ښه هوښيار او د پوره سياسي پام لرونکي وه چې د وزیرمحمد ګل خان مومند وړاندیزونه یې منل او په ترسره کولو کې یې دهغه مرسته کوله له سقاوي ګډوډۍ وروسته لومړنی ګام همدا و، چې باید تر سره شوی وای، اداره کې ملکي وېش خاص ارزښت درلود چې د کورنیو چارو وزیر ټول هغه اداري واحدات، دولتي موسسات مقامات، د اداري دستګاه فعالیت، چې دحکومت دلوړو ارګانونو تر مشرۍ لاندې یې عمومي چارې ترسره کولې، اصلاحاتو لاندې راوستې تر ده پخوا اداري تشکیلاتو، اداري مناسبو تقسیماتو او اداري حقوقو ته په افغانستان کې لازمه پاملرنه نه وه شوې. حتی لوی احمد شاه بابا چې کله دمعاصر افغانستان دبنسټ ډبره کېښودله، اداري اوملکي وېش یې په لازم ډول اصلاح نه شو کړای، ځکه چې د ده دوره د لښکرو وېشنې او فتوحاتو دوره وه، اوزیاته دوره یې د سیاسي او فرهنګي پولو پر ټینګولو تېره شوه، دغه لوی واکمن په خپله لویه امپراطورۍ کې صرف ۸ ولایتونه او ۱۵ اعلی حکومتونه تشکیل کړل. لکه د ننګرهار، کابل، هرات، مزارشریف، خراسان، بدخشان، پنجاب او کشمیر ولایتونه، چې په دغه وېش کې یې لازم تناسب موجود نه و، سره له دې چې احمد شاه بابا دغه تشکیل په خپل تدبیر اداره کولو، خو وروسته له هغه چا داکار و نه کړای شو. همدارنګه احمد شاه بابا په رسمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارو کې پارسي او حتی اردو رواج کړه شاید دلیل یې داوګڼل شي چې ترده مخکې د نادر افشار او قزلباشو د اداري شتون لـه کبله او پـه پنجاب کې د پنجابیانو لـه لامله ده تـه دغـو دوه ژبو اړتیا پیښه شوې وي، خو همدغو دوه لاملونو لـه یوې خوا یـوه نامناسبه اداره اولـه بلې خوا دملي ژبې پښتو دولتي کېدنې اړتیا دده اولادې ته وروسته سردردۍ رامنځته کړې وې.

همدا دوه لامله وه چې انګریزانو پر اسانۍ دهغوی دحکومتونو پښې سستې کړې، دشازمان لـه ړندولو وروسته دعبدالرحمن خان تر وخته دهېواد اداري نظام ډېره شړېدلې بڼه لرله که څه هم چې عبدالرحمن خان د انګرېزانـو سره دپښتنو پر وېشنې ډېر زیات اداري مرکزیت پیاوړی کړ، خو دمرکز دغه پیاوړي کېدل دعامه حقوقو او علمي اداري پر بنسټ پوره او برابر ونه ختل، امیـر حبیـب الله خـان سـربېره پـر دې چې اداري تـه یـې لازمـه پاملرنه ونه کړه، دخپل پلار دمرکزیت او انضباط اصل هم ورنه وران شو؛ امان الله خان دنورو ټولو اصلاحاتو ترڅنګ اداري اصلاحاتو ته پاملرنه وکړه، خو کوم اصلاحات چې ده راوستل سقوي دوره کې لـه منځه لاړل، نو، ځکه وزیر محمدګل خان د کلکـاني حبیـب الله واک پـای تـه رسـېدو وروسـته اداري اصلاحاتو ته کلکه ملا وتړله او د ښې اداري د رامنځته کېدلو لـه کبلـه یې د افغانستان ملي وحدت هم تامین کړ، همدغـه وخت کې اداري تشکیلات د افغانستان د اساسیه تشکیلاتو

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نوم ونومول شول.

محمدګل خان ټول هېواد په ۲۱۲ اداري واحدونو وېشلی و، دغو اداري واحدونو کې ولايات، اعلی حکومتونه، لوی حکومتونه، لومړی درجه حکومتونه، دوه یمه درجه حکومتونه او اوله درجه علاقه داری او دوه یمه درجه علاقه داری شاملې وې، د ېر کوچنی اداري واحد کلی و، چې ۲۵-۲۰۰۰ تنو پورې نفوس یې درلود دکلیو په سر کې به ملك، د ولایتونو په سر کې به نایب الحکومه او د اعلی حکومتونو په سر کې به حاکم کار کولو. په ۱۳۰۹ل کې د دوه یم اساسي قانون له مخې (لومړی اساسي قانون په ۱۳۰۲ل کې نافذ شوی و) دغو اداري تشکیلاتو کې ډېر لږ بدلون راغی چې اصلاحي بڼه یې درلوده کله چې محمدګل خان د داخله چارو وزیر و د افغانستان اداري تشکیل لاندې بڼه لرله:

دکابل ولایت، دکندهار ولایت، دهرات ولایت، دمزارشریف ولایت، دقطغن ولایت، دمشرقي ولایت، دپکتیا ولایت، دغزني اعلی حکومت، دپروان اعلی حکومت، دفراه اعلی حکومت، دمیمنې اعلی حکومت، دبدخشان اعلی حکومت، دشبرغان اعلی حکومت، دګرشك اعلی حکومت، دتالقانو، غوراتو، ارزګان اوبامیانو اداري مرکزونه د راتلونکیو اداري تشکیلاتو بنسټونه وګڼل شول چې د۱۳۴۳ل کال تر اساسي قانون پورې یې اعتبار درلود. محمدګل خان پوهېده چې دملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اهدافو د تر سره رسولو لپاره مېخانيکي عامل هغه ځواکمن اغېز دی چې له پاسه عملي کېږي؛ نو، ځکه د کورنيو چارو وزارت، صلاحيت، کړنې او ارګانيکي عوامل، د وګړو ګډه برخليك ته دناوړه شرايطو پر راتګ ساتندويې ځواکونه په نظر کې نيونه وه، ګډې ملي ګټې، معنوی عوامل، ګډ کولتور، اقتصادي پياوړتيا د طبيعي منابعو او فرهنګي- تاريخي اثارو د کار لاندې راوستل په پام کې ونيول شول دکار ځواك وېش، د کاريزونو جوړول په داسې توګه چې منابع (خصوصاً ځمکه او اوبه) استفادې لاندې راوستل د ده د اقداماتو يوه برخه وه.

## دوه یم ـ د نفوسو ځای پرځای کول :

وزير محمدګل خان مومند په هېواد کې دنفوسو مېشت کېدلو او تنظيمولو ته داسې پروګرام پيل کړ، چې اقتصادي، تجارتي، زراعتي، امنيتي، سياسي اوفرهنګي اړخونه يې تول وسنجول، زرګونه کاله مخکې کله چې اريايانو دخپلو پنځېدلو په لړ کې له بخدي څخه دغور، زميندارو، کسي غره او ګندارا خواو شا ننني جلګې دنوي اقليم او شنو سيمو لرونکې ځمکې ونيولې اوهلته مېشت شول، دهندوکش شمال ته يو شمېر سيمې له نفوسو څخه تشې پاتې وې، په زرګونو کالو دا ځمکې چې دکرنې لپاره دکار په واسطه اماده کېدای شوې او دکرنې استقرار يې درلود، همداسې لا مزروع پاتې وې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګلونه يې لرل خوګان په کې ګرځېدل حال دا چې د هېواد په ختيځ لوري کې او د هندوکش جنوب ته دنفوسو زياتوالی ليدل کېده وزير له دغو سيمو د هندوکش شمال ته په ځانګړي توګه کندز او بغلان ته ځينې کورنۍ ولېږدولې، هلته يې دنوې کرنې، سوداګرۍ او ځينو نورو وته ييزو چارو د سرته رسولو زمينه برابره کړه. محمدګل خان مومند دغو سيمو ته دحاکم په توګه راغی او پر دغو سيمو کې بې ساريو اقتصادي پرمختګونو ته لاره خلاصه شوه. هغه وخت مشهور متل و چې (اګر مرګ مېخواهی قندز برو) خو محمدګل خان دغه دمرګ سيمه پر يوې داسې ښېرازې سيمې واړوله چې لږ وروسته يې دټول هېواد دګودام، نوم غوره کړ.

د نفوسو دا ډول لېږدول نورو هېوادو کې هم ليدل شوي دي. مثلاً د مسکو او پترزبورګ نه د سايبريا سيمې ته د نفوسو لېږدول، د هند له بمبي نه نورو سيمو ته دکار ځواك خپرول، کاناډا او استراليا کې د نفوسو مېشته کول، چې دا ټبلګې ټولې د (ديموګرافۍ) دعلم له مخې امکاناتو او پاليسيو پورې اړه لري چې په دې توګه دنفوسو ښه وېشنه او دنفوسو ټولېدنه دواړه اصلاح کېږي او نوې اقتصادي منابع کار لا ندې راځي او سيمه په اقتصادي تحرك کې واقع کېږي. سربېره پر دې دا د ملي وحدت د تامين لپاره هم يو ګټور اقدام او دهېواد د ځمکني تماميت يو لوی تضمين و ځکه، چې محمد ګل خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



مومند او په خپله محمد نادر خان ته د استقلال له ګټلو او لـه هېواد نه ددفاع په ډګر کې هلو ځلو او انګریز سره د دریوو جګړو په ترڅ کې دا ثابته شوه، چې پښتانه دخپلواك او واحد افغانستان د ساتلو اتلان دي، نو له یوې خوا هندوکش شمال ته ددوی لېږل هلته د هېواد دځمکنې تمامیت د ټینګولو لپاره دمېخونو دټك وهلو معنا درلوده او له بلې خوا تاریخ ورته د چنګیز اوهلاکو یرغل دیوې تجربې په توګه ثبت کړی و.

همدارنګه د شلمې پېړۍ په درشل کې وروسته تر ۱۹۳۰م المان کې د نازیزم او ایټالیا کې دفاشیزم خطر له یوې خوا جاپان، بلغاریا او هسپانیا تهدیدول، ان دا چې ایټالیا خو عملاً حبشه ونیوله او بل خطر یې ختیځ ته دمرکزي اسیا هېوادونو ته متوجه و، چې لار یې پر امو سیند باندې وه، نو پښتنو د دغه خطر پر وړاندې د سپر حیثیت غوره کاوه، سره له دې چې دغه کار اولېږدونه د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې هم شوې وه، خوورو سته محمدګل خان د وزارت پر چارو سربېره داصلاحاتو راوستلو او دحالاتو دښه کولو لپاره کله کندهار، کله شمال او کله بېرته مرکز کې اداري چارو باندې ګومارل شوی او د ځینو پلاوو سره یې په بهرنیو سفرونو کې هم ګډون کړی دی او هره دنده یې په پوره سیاسي پاملرنې او بریالیتوب سرته رسولې ده. دهغه وخت او شرایطو لویه ستونځه دسقو دځوی د اړ ودوړ له لامله د نظم او اداري شړیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په هېواد کې د هغې تورې دورې له منځه وړل اسانه کار نه و؛ ځکه، چې د سقو ځوی د مدنیت نخښې نه وې پرېښې. په سقوي دورې کې څو تنه ناپوهان دولت ته رسېدلي وه، په پیسو ټولولو بوخت شوي وه، ځمکې، باغونه او کورونه یې لوټل، دولتي ودانۍ یې شخصي کورونه کړل، هرځای کې به یې چې کوم سر لیدو دهغه دپرېکولو په فکر کې به شول؛ نو دنا پوهۍ په دغې دورې کې وزیر محمدگل خان دعلم او فرهنگ لپاره دخدمت اړتیا هم لیدله، له همدې لامله یې د ادبي انجمنونو جوړول او د مطبوعاتو هڅونو ته یې پاملرنه وکړه، په دې توگه گورو چې د وزیر محمدگل خان ژوند څو اړخونه او بعدونه لرل او په هر یوه کې یې خپله سیاسي پاملرنه او پوهه ثابته کړه. لکه پوځي ډگر کې، اداري چارو کې، دمدني ټولنې د اساساتو ټینگولو کې، داقتصادي بنسټ په ټینگولو کې، دحقوقي نظام غښتلي کولو کې او په اداره کې اصلاحاتو راوستلو کې، ترټولو مهمه دا چې دملت جوړونې په دغوټولو برخو کې یې فعاله او اگاهانه برخه واخیسته.

محمدگل خان مومند دملي هویت دپېژندنې، د ملي شعور د ویښولو او دملت جوړونې هغه کار چې ۵۰۰ کاله مخکې د وطنپالنې، ملي ځان پېژندنې او ملت جوړونې هغه بنسټ او مفکوره چې سوري (فرید) رامنځته کړې وه، وپالله او د هغوی پر لارې یې پاخه گامونه پورته کړل، خو توپیر یې دا و، چې

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوا د ملي مفکورې د پلي کولو لپاره نور اړین توکي لکه دملي اقتصاد د ستنو شته والی، ملي ادب او کولتور دملي شعور د ودې لازمه سطحه نه وه لوړه شوې، له همدې لامله افغانان په دغو تېرو ۵۰۰ کلونو کې (د سوري شېرشاه له وخته) دغه هدف ته ونه رسېدل. حال دا چې ملي ټولنه جوړول روڼ فکر، شعور، دژوند لوړه سطحه، عزم او پرله پسې هڅې غواړي. دا ډول کلك هوډ او لوړه پوهه وزير صاحب کې موجود وه، دملي ټولنې د جوړولو غوښتنه دا وه چې قومونه د ترليو ګټو د وفادارۍ له مخې سره واوبدل شي او دژوند ټولو چاروکې سره ګډې اړيکې ولري. لکه وزير صاحب چې دهمدې موخې لپاره زمينه برابره کړه؛ ځکه، چې ملي ټولنه هغه ده، چې اوسېدونکي يې دقومي، ژبني او اخلاقي توپيرونو سره سره ځانونه دټولنې او ټول هېواد غړي بولي، خپل ګډ تاريخي هويت وساتي جغرافياوي شتون ته وفادار وي او ملي هېوادنيو ارزښتونو ته ژمن پاتې شي.

محمدګل خان د ټولنې په ټولنيز شتون کې مونده وه چې بايد ټولنې په ټولنيز شتون کې مونده وه چې بايد ببلابېل قومونه لوی اوواړه توکمونه يو بل سره نژدې اړيکې ولري او په ګاونډيتوب کې سره ژوند وکړي. لکه، چې ترکمن، پښتون، ازبك، تاجك، هزاره، يې سره په روابطو کې نژدې وساتل، دا له ملت سره دده د پراخ نظر، بې تعصبه چلند او مينې ښکاره بېلګه وه. خو په دې وروستيو کې په ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزښتونو ملنډې، د پرديو بلوسېدو اوقومي تعصباتو ته دلمن وهلو ترڅنګ دمحمدګل خان مخالفانو سياسي وده وکړه دغرض خاوندان دوزير صاحب په شخصيت کې هيڅ ډول ناوړه کړنه نه ده موندلې. يواځې دده په دغه اقدام چې قومونه يې سره نږدې کړي دي، نيوکه کوي، حال دا چې نومړي د وګړو د اسکان، داقتصادي فعاليتونو لپاره دکار دځواك تنظيم او دملي يو والي لپاره اداري اقدامات کاملاً د اړتيا له مخې تر سره کړي وه ځکه، نو اوس يو ځل بيا دملي ځان پېژندنې، دملي شعور دپياوړتيا او د ملي ارزښتونو دځلولو لپاره يو بل محمدګل خان ته اړتيا ليدل کېږي. د اداري جوړښت د پياوړتيا او دقومونو دنږدې کولو لپاره د يو بل هوډمن او قاطع وزير اړتيا ده. نن هم هاغه څه تر سره شوي چې د سقاو ځوی تر سره کړي وه. که وزير صاحب د يوه ځای خلك بل ځای کې نه وای مېشت کړي، نو نن به افغانستان په جغرافيوي توګه په ځو ټوټو کې پروت و او نه به چا د يو افغانستان خبره کولای شوه.
دا سمه ده چې دوزيرصاحب دغه کار پښتو ته ډيره مالي اومعنوي ګټه ورسوله، خو نن چې ددې تر شا کوم حقايق څرګند شوي هغه د افغانستان له تجزيه کېدو نه ژغورل دي. محمدګل خان د پښتو راتلونکی په خپل دقيق نظر مخکې له مخکې له نظره تېر کړی و ، دغه راز يې پښتانه د ښاري ژوند دلارو لټون ته وهڅول، اقتصادي لارې يې ورپر ګوتې کړې او پښتنو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د ملي شعور راټوکېدل او د يرغلګرو او ښکيلاکګرو په مقابل کې يې د ډال په توګه و درول، پښتانه يې دراتلونکيو څو لسيزو له ويجاړيو خبر کړل که سياسي عمل پرې شوی وای دهغو په وجه به دبهرنيو دښمنانو پر لمسون او لاس وهنې د افغانستان اوسنۍ بڼې بدلون موندلی وای.

## دريم- د پښتو ادبيات :

وزير محمدګل خان د پښتنو د ژبې، نظام او کولتور ترڅنګ د پښتو ادبياتو په وده کې هم د احترام لوړ مقام لري دی پوخ شاعر ځيرك لغت جوړوونکی او حقيقت خوښوونکی مورخ و.

د پښتو طلوع افغان اخبار د وزير صاحب پر امر پښتو شو چې حبيبي صاحب چلولو، په ننګرهار کې اتحاد مشرقي جريده پښتو شوه او پکتيا کې د وړانګې جريده پر پښتو وچلېده، د بچه سقاو پر وخت يې په ننګرهار کې د "کورغم" پر نوم اخبار وچلاوه چې ډېرې ګڼې يې خپرې شوې او اوس په لاس کې نه شته، خو قتيل خوږيانی د "کورغم" اخبار چلوونکی جنرال سيد حسن حسن بولي چې شيون يې تخلص کاوه قلمي يې دغه اخبار په ګډه خپراوه. او دا اخبار محمدګل خان يواځې نه دی چلولی. په ۱۳۳۴ ل کال د لويې جرګې د پرېکړو لنډيز يې په پښتو کې دپاڼو په شکل خپور کړو چې د پارلمان زيات غړي په کې پښتو سره بلد شول. دا هم د بابا برکت و.

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیر بابا د پښتو په لیك دود كې ډېر بدلونونه راوستي، چې وروسته نورو ورته لازمه پاملرنه ونه كړه یوائې دده جوړې شوې دوه یاګانې یوه لكۍ لرونكې په (ۍ) او بله مجهوله (اوږده) یا (ې) چې دټولو پښتنو له خوا ومنل شوې او نن هم دود دي او هیڅوك حق نه لري چې له ځانه په كې ګوتې ووهي وزیر صاحب دا نظر هم درلود چې كه پښتو دنسخ پر ځای پر نستعلیق لیك ولیكل شي دا به د ژبې په ګټه وي، په یو وخت كې خو د وزیرصاحب لیكدود ډېرو پښتنو منلی هم و، اوس هم داسې كندهاریان شته چې د وزیرصاحب پر لیكدود لیكنې كوي او د لرې پښتونخوا د باره ګړي په سیمنار كې یې دیا له لیكدوده ژوره استفاده وشوه. وزیر صاحب یو شمېر نوي لغات هم جوړ كړي دي چې زیات پښتانه یې اوس هم په لیكنو او ویلو كې كاروي. لكه: خج (د اواز فشار، د ژبې لیاره (قانون) وتوځی (مخرج) نسنوتوځی (مدخل)، ایرنۍ (خاكستر دانۍ) او داسې نور چې محمدګل خان ایجاد كړي اوس هم دكارونې وړ دي. دپښتو ګرامر په برخه كې وزیر صاحب دلوی لاس لرلو له كبله په ۱۹۳۸ م كې "د پښتو د ژبې لیاره یا صرف اونحو" پر نامه په څلور سوه پنځه نوي مخونو كې یو لارښود كتاب لیكلی او لاهور كې دعبدالعظیم ساپي پر زیار او اهتمام چاپ شوی دی.

د وزیر صاحب افغاني قاموس (پښتو سیند) چې دكابل عمومي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطبعه کې دښوونې او روزنې د وزارت له خوا په **۱۹۳۷**م کال پر لوی کاغذ قلمي چاپ شوی دی ددې کتاب لغات محمدګل خان په نهو کالو کې راټول کړي دي، دهرټکي معنا او پېژندګلوی یې په فارسي ژبه کړې دی. ځینو ځایو کې یې معنا پر پښتو ژبې هم کړي ده، داکتاب دوه برخو کې چاپ شوی دی ټول **۷۲۵** مخونه لري.

د محمدګل خان بل کتاب (لنډکې پښتو او پښتونواله) نومېږي چې بېنوا د اوسني لیکوال کتاب کې هم یاد کړی دی بل یې د (پخلي، په نوم کتاب دی چې تراوسه نه دی چاپ شوی.

د ژبې ملي او ادبي اصطلاحات د وزیر محمدګل خان یو بل کتاب دی همدارنګه د مېلمستون، سیمه، ټوکې او پښتني تربیه یې هغه کتابونه دي، چې ورك او له چاپه پاتې شوي دي.

لکه چې مو ولوستل په شمالي ولایاتو کې سرحدي پښتانه ځای پر ځای کول له ځینو نیوکو لاندې راغلي؛ ځکه چې د پښتنو ټاټوبي کندهار کې ایراني شیعه ګان او قزلباشان د نادرقلي (نادر افشار) له واکمنۍ وروسته احمدشاه بابا د خپلې اسیایي امپراتورۍ اداري او سیاسي غړي وګڼل او ایرانیان د افغانستان ټاټوبي کې مېشت پاتې شول. پښتون واکمن تیمورشاه دراني ورته مهمې مالي اداري، سیاسي، فرهنګي او اقتصادي دندې هم ورو سپارلې، چې لاتراوسه پورې یې نسلونه په کندهار او کابل کې برلاسي پاتې دي،

www.melitahrir.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه کله چې روسانو د ازربایجان، سمرقند او بخارا سیمې د خپل تېري لاندې راوستې؛ نو ډېرو بخارایانو، اذربایجانیانو، سمرقندیانو افغانستان ته مخه وکړه چې په هلمند ولایت کې مېشته شول او دولتي ځمکې ورته ورکړای شوې او څه نور يې په شمالي ولايتونو کې چې ترننه ژوند په کې کوي او سیدلي دي. ځینې لا وايي چې مومند محمدګل خان بابا له سرحدي ولایاتو افغانستان ته راغلي او دلته پر دندو ګومارل شوی دی. حال دا چې وزیر صاحب د ننګرهار د سیمې اوسیدونکی او د همدغې سیمې ستر شخصیت دی. او په نازکو وختونو کې يې مهمې دندې سرته رسولي د پښتنو لپاره ویاړ او د مخالفینو لپاره د خواشینۍ وړ ګرځېدلی دی. دده د تولنیز سیاست پر ضد يې پوهنځي ته دانشکده، پوهنتون ته دانشګاه او محصل ته دانش اموز ویلی دوی د ملي هویت له تاریخي ارزښت نه منکر شوي دي، ځکه چې د پښتنو ستر قوم پر چا نه شي ورګډېدلی. مومند محمدګل خان بابا ویلي :

"ژبه د ملي موجودیت، هویت، هوساتوب، سعادت، لوړوالي، او ځګوالي ستنه ده، ساتل او پالل يې په کار دي". د تاريخ پر کتنې افغانستان له شماله ترجنوبه او له ختیځه تر لویدیځه له ازله تردې دمه د پښتنو او افغانانو وطن دی او ډګر ته راوتلي سیاسي او فرهنګي غرضیان خو له تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان، ایران او ننني اذربایجان نه د روسانو یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنادرافشار لـه ظلم راتښتـېدلي او د پښـتنو لـه مهربانۍ ډکې غېږې ته یې پناه راوړې ده؛ نو دا د پښتنو او افغانانو هېواد دی، افغانان حق لري چې د افغانستان په هره سیمه کې یې چې زړه وغواړي اوسېدای شي.

محمدګل خان پر سیاسي توګې هېواد لـه ټوکړه کېدلو ژغورلی او د روسیې د سیاسي نفوذ مقابل ته یې ټینګ سنګر جوړ کړی دی او د افغانستان لـه جنوب او جنوب لویدیځ او جنوب ختیځو سیمو څخه بېوزله بې ځمکې خلك یې د شمالي سیمو په حاصله دښتو کې مېشته کړل او د افغانستان دولتي بې حاصله دښتي یې پرې ودانې کړې چې لـه یوې خوا یې د افغان ملت مظلومې او څپل شوې پرګنۍ پر کار واچولې، د افغان قومونو پر یوځای اوسېدو یې دنوي افغان ملي کولتور د پخلي لپاره تاریخي تیره ښخه کړه او د امو د سیند په اوږدو کې یې د افغان نظریې او د افغانستان د جغرافیې د دفـاع او د ملي یـووالي د خوندي ساتلو لپاره یې تاریخي، ملي، انساني او نه ماتېدونکی سنګر جوړ کړ خو د روس وسله وال یرغل وښودله چې د امو د سیند په اوږدو کې ازبك، ترکمن، تاجك لـه افغانانو پر ببلا ببلو پلمو ببل شول. د محمدګل خان سیاسي تدابیرو د هغوی شومې سیاسي هیلې شنډې کړې خو روسانو پنځمه ستن په کابل کې جوړه شوه افغان ضد ایرانۍ دسیسې پر کارولو یوې دغه ساړه جنګ د افغان ایډیالوژۍ (افغانیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دختمولـو لپـاره پـر هېـواد مـين سياسـت پـوه محمـد گل خـان اودکابـل د افغـان کېـدو پـر بـاني ديپلـوم انجنيـر غـلام محمـد فرهاد باندې يې لـه غرضه ډکې نيوکې پيل کړې.

د افغـان ايـډيالوژۍ لـه مخې ديـوه ملت دملي جوړښت لپـاره پنځه اساسي بنيادونه شرط دي :

۱ -دهغـه ملت ملي تـاريخ. ۲- دهغـه ملت ملي جغرافيـه. ۳- دهغـه ملت ملي اقتصـاد. ۴- دهغـه ملت ملي کولتـور او دهغـه ملت ملي مقدسات، دملي کولتور برخه يې پر دوه برخو وېشـل کېږي :

الف: يوه بې دهغـه ملت دسياسي او ټولنيزې پوهې او مـدنيت سره اړخ لګوي.

ب: دوه يمه برخه يې دهغه ملت دود ،ثقافت، ادب او ژبې پـورې تړل کېږي.

پـه کولتـوري سـاحه کې دژبې برخې نـه يـوائې ټولـه کولتـوري ساحه، بلکې دملي جوړښت څلور نور بنسټونه تـر اغيـز لانـدې راوړل.

دا يـو حقيقـت دی چې ديـوه قـوم ژبـه ژونـدۍ وي هغـه قـوم بـه ژوندی وي، چې ديـو قـوم ژبـه درنـه، علمـي او داهميت وړ وي؛ نو قوم به يې ورسره درونـد او دنړيـوال اعتبـار څښـتن وي. دغـه راز کـه ديـوه قـوم ژبـه ورکـه شي يـا سپکه شي هغـه قـوم ورسـره ورکېږي او سپکېږي.

www.melitahrik.com 0777 400 115

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ملي اصل ته ټولې نړۍ توجه کړې د اکثریت ژبه یې ملي او رسمي ژبه منلې دملي یو والي او پرمختګ عمومي سبب یې ګرځولی دی. افغانانو ته هم لازم دي چې د پښتنو ژبه چې دملت داکثریت ژبه ده او ملي او رسمي ګڼل شوې باید ټول افغانان یې زده کړي، نورو هیوادو کې هم داکثریت ژبه ملي او رسمي وي او پر ټولو باندې یې زده کړه کېږي. لکه انګلیسي چې پر خپل ملت او پر مستعمرو زده کېږي یا عربي چې پر خپل ملت او ټولو مسلمانانو زده کېږي، پارسي چې د ایراني ملت ژبه ده پر خپل ملت او ګاونډیو ورزده کېږي اردو چې د پاکستان د ۲۲٪ فیصدو خلکو ژبه شوې په کې ارزښت لري.

په ۱۸۷۲م کې چې کله روس (موجوده المان) او فرانسې ته ماتې ورکړه او دوه جرمني نژاده ولایتونه (الزاس) او (لورن) یې ترې ونیول فرانس پرې فرانسوي زده کړې وه. جرمنیانو چې المان پورې وتړل ببرته یې الماني ورباندې زده کړه، نو څرګنده ده چې دژبې مسله دملتونو دجوړښت یو ارزښتناکه فکتور دی.

ټولو ملتونو دغه مسئله درك کړې ده یواځې افغانان دي چې سیاسي چارو کې تل جنګوليویني یې تویوي او سیاسي واك یې ایراني کولتور او ایرانۍ ژبې ته ورکړی دی پر منبر د خدای(ج) فرمودې په پارسي ویل کېږي پارسي نظمونه لیکل کیږي ځانګړي او رسمي لیکونه تراوسه پر پارسي دي. ددغه تورتم د رڼا کېدو لپاره وزیرمحمد ګل خان برې پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې او پاچاخان لرې پښتونخوا کې چغه کړه چې :
"دهر قوم او ملت ژوند او مرګ دخپل ملت پر ملي ژبې پورې تړلی دی. دا داستعمار کار دی چې دملت مغلوبولو لپاره د اقلیتونو او لږه کیو پلوي کوي او لمسوي یې او پر اکثریت یې مسلطوي، خو بیاهم د استقلال له حاصلولو وروسته یا حساب سره مخ کېږي او یا یې پر څو جغرافیوي برخو وېشي. لکه لره او بره پښتونخوا.
محمدګل خان یوائې له صالح محمدخان سره دیاور یا د قواو درستیزوال ددفتر دمنشي حیثیت درلود، خو محاذ قوماندان پخپله د وخت د وسله والو قواو وزیر و؛ نو دحرب پر وخت چې یاور د امر له امره سرغړونه وکړي پر اعدام محکومېږي. له دې کبله دجبهو په محاذ کې دعقب نیشنۍ مسئوول خپله د وخت وزیر و چې مسوولیت یې صالح محمدخان پر غاړې دی، نه د هغه دیاور پر غاړې چې یوائې دمنشي حیثیت یې درلود. نو له امانالله خان سره چې د استقلال په جګړه کې ختیز جبهه ماتې سره مخ شوه مقصد یې خپله د دفاع ذکر شوی وزیر و او بس له بلې خوا دغه جګړه ثابته نه وه پلورل شوې یا بايلل شوې وه؛ ځکه، چې یوائې صالح محمدخان په کې طلاوې اختسې وې همدا علت و، چې کله امان الله خان غازیانو ته دمکافاتو ورکولو پر ورځ صالح محمد خان ته دوه ګزه سور ټکری ورپر سر کړ ورته یې وویل چې په نرانو کې هم نه شمېرل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیرمحمدګل خان پښتانه پښتو ویلو پښتو لیکلو او د پښتني روایاتو او کولتور ژوندي ساتلو ته هڅولي او دچپن پر ځای یې ځادر دکلوشو پر ځای یې څپلۍ او دقرقلۍ پر ځای یې دپګړۍ کارونې ته هڅول. دا ؛ ځکه، چې ده ته معلومه وه چې یو ملت پر خپل تاریخ، ژبې، ملي روایاتو او ملي تشخص ژوندی وي. همدارنګه پوهېده چې یوازې پښتانه دخپل فطرت او خصلت له مخې د هېواد د پولو تاریخي محافظان دي. د ساري په توګه کله چې روس بخارا، تاجکستان، تاشکند، ارمنستان، ترکمنستان او آذربایجان ښکیل کړل او زمونږ ګاونډي شو، امیر عبدالرحمن خان دخپلو سرحدونو دپیاوړتیا پر غرض دهرات والي ته هدایت وکړ چې ددې سیمې جمشیدي، ایماق اوهزاره قامونه دترکمنستان سرحدونو ته ولېږدوي چې دهمدې سپارښتنې له مخې یې قامونو ته کاپي پیسې او نور امکانات او سهولتونه برابر او هلته یې مېشت کړل، خو کله چې روسانو پر افغان سیمه (پنجده) برید وکړ؛ نو دې نامردو دوه پښې خپلې او دوه پور کړې او پر یوې منډې راوتښتېدل او افغان سرحدي قطعه یې دغوث الدین خان پر نامه دیو قوماندان پر مشرۍ یوازې پرېښوده چې دې غازیانو او اصیلو افغانانو د روسي کرنیل علی خانوف تر مشرتابه لاندې دیوې لویې او مجهزې قوې سره دمرګ تر وروستۍ سلګۍ پورې مقاومت وکړ او دغوث الدین خان پر ګډون ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شهادت جامونه وڅښل او روسانو پنجده ونیوله چې ترننه پورې اشغال ده.

امیر عبدالرحمن خان د جمشیدي قام مشر (الیسنگتوش) کابل ته راوغوښت او د بې غیرتۍ او نامردۍ پر جرم یې دقام له مشرۍ معزول کړ بیا وروسته عبدالرحمن خان هوتک، توخي او اڅکزي پښتانه شمالي سیمو ته تبعید کړل چې له یوې خوا په مرکز کې خپل مخالفین لرې کړي او له بلې خوا پوهېده چې یوائې پښتانه دخپل هېواد د پولو ساتنه کولای شي او دا حقیقت تاریخ هم ثابت کړ چې په سرحدي سیمو کې د پښتنو له مېشتېدلو وروسته تر سلو کالو روسان ونه توانېدل چې زمونږ یوه لویشت خاوره لاندې کړي، دا بېله خبره ده چې بیاهم غیر پښتنو ګډه ستمي باند جوړه کړه او روسیه یې په افغانستان مسلط کړه نو له دې امله چې محمدګل خان پښتانه خپلې ژبې، افغان فطرت، خصلت او د روایاتو تحفظ ته هڅولي دي، معقول او پر ځای کار نه دی؟ ځکه، کله چې یوقوم خپله ژبه، کولتور او روایات هیر کړي بیا په کې دخپل هېواد سره مینه او د جغرافیاوي شتون د ساتلو روحیه هم نه پاتې کېږي.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library




# ماخذونه

۱. رښتين صديق الله د مومند بابا ياد، د **۱۳۸۳**ل.هـ کال د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز- پېښور چاپ پنځم مخ.
۲. روحاني عصمت الله - "ورځ" مجله - **۱۳۸۳** ل.هـ کال- زمرى او وږى- **۳۵** مخ.
۳. زرملوال الحاج غلام محي الدين - "ورځ" مجله د **۱۳۸۳** ل.هـ کال د زمري او وږي د مياشتو خپرونه **۳۹** مخ.
۴. زلمى افغانمل (د مومند بابا ياد) د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز پېښور- **۱۳۸۳**هـ.ش کال چاپ **۱۲۴** مخ.

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library





الحاج پروفیسور دکتور قاضي حفیظ الله بناد جبارخېل

(c) ketabton.com: The Digital Library



www.melitahrik.com
0777 400 116

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**